نامه اي ازبرادران محترم هريک عبدالبصيرتوحيديار واسلام الدين رسولي به دفترشهادت. مواصلت نموده که نخست ايشان ازبذل مساعي کارکنان شهادت ابراز امتنان نموده اند وبعد پيشنهاد نموده اندکه کليشه چون وچرا فضول است ونشرات حزب نبايد مطالب فضولي چاپ کند و ګفته اند ما حاضريم که بجاي چون وچرا قصه هاي عجيبي راغرض نشريه اداره شهادت بفرستيم .

اولا ازحسن نظر برادران نسبت به کارکنان ممنونيم . درثاني ندانستيم که کدام مطلب چون وچرا فضولي بوده است ومنظوربرادران ازفضول چيست ؟ به هرصورت منتظر وصول قصه هاي پرتعجب برادران هستيم ، ببينيم که مطالب ايشان چقدرفضل خواهد داشت ! (اداره )

#####

برادرمحترم "جميلي" اينکه نامه تان را ضميمه باسوال که شماتحريرداشته ايد بچاپ مي رسانيم اميدواريم رياست دارالافتاء بجواب آن بپردازه .

به اداره محترم روزنامه شهادت !

السلام عليکم !

بعداز تقديم سلام واحترامات حضورتمام کارمندان روزنامه .

اينجانب غلام رسول " جميلي " خدمت شمارسانيده شودکه در ذهن من سوالي خلق شده است اميدوارم جواب آن را طريق روزنامه شهادت بشنوم تاتمام علاقه مندان جريده شهادت آن رامطالعه نمايند .

سوال قرارذيل است :

اياکسي ميتواند درصورت موجوديت يتيم هاييکه پدران شان رادرجنګ شهيد داده باشند وياکسانيکه هرلحظه حيات ايشان به اثر فقر درخطر باشد به حج بيت الله شريف بروند وياپول خويش را خرج يتيم ها وديګر محتاجين نمايند اميدوارم که سوال مورد پسند شماباشد .

مخلص شما غلام رسول " جميلي "

###

برادرمحترم عبدالبصير " حيا "

ازهمکاري قلمي شما اظهارامتنان کرده آرزومنديم آنرا ادامه دهيداز اينکه درين بخش مضامين زيادي درجريده شهادت بچاپ رسيده وجريده ګنجايش مزيدرا ندارد لذا غرض تشويق شمايک بخش ازمطلب ارسالي تان، درنامه هاي وارده به نشر مي رسانيم .

سيزده سال قبل ازامروز درشتم جدي قشون سرخ ددمنشانه بالاي حريم پاک ومقدس مان افغانستان عزيزتجاوز نمودند ويکباره ملتي راکه همه درفضاي صلح وصميميت وبرادردوستي قرارداشتند به غم واندوه درآورد .

وهزاران برادران مسلمان ماراه حق رادرپيش ګرفتند صدها اطفال بيګناه ومعصوم يتيم وبي سرشدند وتعدادي زيادي مادران مان بيوه وبي اولاده شدند که ملت بيچاره ومظلوم افغان بدون هيچ نوع آګاهي درين بلاي ناګهاني مبتلا ګرديدند .

بلي ! اين دست آوردهاي يکعده انسان هاي پليد ووطنفروش بوده که هميشه داعي خدمت و نمره هاي بيجا ودروغ که نان ، لباس ، وخانه را اشعارقرارداده بودند تاکه بتوانند ملتي راکه ازبهره سواد کاملاً برخوردار نبوده ، يعني تقريباً هشتاد فيصد مردم بيسواد بود بفريبند اما ازين غافل بودندکه درست است که ملت بيسواد است امابګانه چيزي که ملت ازآن برخورداربوده ايمان واراده قوي بوده

بلي برادران مجاهد ! ملتي که هرګز تسلط بيګانګان راقبول نکرده باشد چګونه ميتواند موجوديت عساکرکفر والحادرا درسرزمين خويش بپذيرد .

#####

محترم وروور عبدالمنيريوسفزي صاحب !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته .

ښه شوچي ليک دي نشر شويدي، راځه چي په جمهوري فضا کي نه بلکي دوروروګلوي په اسلامي چاپيريال کي ستاسو انتقاد وڅيړو ، اوهغه داچي ستاسي ليک دپاکستاني ليک د و دتراغيزي لاندي دي، اوهمدا مغايرت اوتوپيرستاسو په اصطلاح دنيمګړتيا مقام ته رسيدلي، اودادوهم دپيغام يوه برخه :

" دلوي خداي (ج) په فضل ددنيا طاغوتي طاقت پخواني شوروي اتحادرسما ختم شو، چي داټول دافغانستان دمظلومو اومعصوموموجاهدينو سپين ږيرو، ماشومانو اوښځو دوينو دتويدو نتيجه ده ، زه هم دخپل مدبر شخصيت اولاربنود محترم وروورحکمتيارصاحب دپيغام مطابق له ټولو مومنو افغانانو ته هيله کوو چې دوه رکعته دشکرانې لمونځ اداکړي

ستاسودهمکاري په هيله

######

## نوميالي مجاهدغلام حبيب په شهادت ورسيد

دحق دلاري وياړمن غازي مجاهد وروور غلام حبيب دعبدالحبيب زوي دوردګوولايت د ښدچک ولسوالي دقرياني کلي اوسيدونکي دشهادت لوړمقام ته ورسيد.

مجاهد وروور غلام حبيب چي دروان انقلاب په اوږدوکي يي دکمونست رژيم ګڼ شمير ځالګي وبجاړي اودوردګوولايت په بيلابيلو سيمو کي يي دلاس پوځي رژيم په پلوبانو مرګوني ګوزارونه وکړل په آخرکي دروان کال دچنګاښ دمياشتي په ۲۵ مه نيټه په داسي حال کي چي دشاه کابل کمونستي مرکز ونه يي تربريد لاندي نيولي ؤ دېوي مخامخ نښتي په بهيرکي

دملحد رژيم دخپل کړشوي مين دچاودېدو له امله په شهادت ورسيد .

روح يي دي ښاد اوياديي دي هميشه وي.

####

# دانستنيهاي ضروري درباره سلام دادن وجواب آن

ع - نذري ،فرخاري

القاي سلام

سلام يعني سلامت است هرمسلمانيكه بامسلمان ديگر برميخورد بايد سلام دهد گويامعنايش اين است كه از هرگزندي سلامت وامان ترا ميخواهم .

القاي سلام يكي ازسنت هاي گرانقدر اسلام است اگردقيق شويم درمي يابيم كه در اظهارآن بمقابل يكديگرطلب امن افاده ميشود.

دراحاديث حضرت رسول اكرم صلي الله عليه وسلم درين مورد تاكيد زيادي بعمل آمده است ازآنجمله حديث روايت كرده حضرت عبدالله بن عمرالعاص رضي الله عنه ميباشد كه ميگويد شخصي ازآنحضرت صلي الله عليه وسلم پرسيد كه : كدام يكي ازاعمال اسلام نيكواست ؟

فرمودند كه طعام دادن وسلام دادن برهركسيكه اورامیشناسي يانميشناسي .

اين حديث راحضرات بخاري ومسلم طورمتفق عليه روايت كرده اند.

همچنان حضرت رسول اكرم صلي الله عليه وسلم فرموده اند: بجنت داخل نميشويد تا اينكه ايمان نياوريد وايمان شما كامل نميشود تا اينكه بايكديگر محبت نداشته باشيد ومتوجه باشيد كه شمارابكاري هدايت مي دهم كه اگرآن راعملي كرديد ميان شمامحبت برقرارميگردد : ( سلام رابديگري افشاسازيد ) . روايت ازمسلم وغيره .

(احكام شروع به سلام )

آغازسلام به شخص منفردسنت عين وبراي جماعت سنت كفايه ميباشد اگر ازميان اشخاص يكي القاي سلام نمايد از ذمه ديگران ساقط ميشود اماخوبتر آنست كه اشخاص همه سلام دهند تاثواب اداي سنت براي همه كسان رسيده باشد .

درباره اداي لفظ سلام دوطريق امده است : يكي السلام عليكم وديگري "سلام" عليكم اما پسنديده‌تر وخوبتراين كلمات همان لفظ اولي يعني السلام عليكم ميباشد.

اگر گفته شود كه عليك السلام يا السلام الله عليك مكروه است براي اينكه اين كلمات تحيه براي مردگان است بناء اداي سنت بدون گفتن السلام عليكم بعمل نمي آيد.

گفتن السلام عليكم براي جماعت وشخص منفرد وفرقي ندارد.

اكنون مي آئيم بهالاي ردسلام كي جواب سلام بايد چگونه اداشود ، درهنگاميكه يك مسلمان به مسلمان يامسلمانهاي طرف مقابل سلام مي دهد جواب آن برشخص منفردسنت عين وبرجماعه سنت كفايه ميباشد اگرازميان اشخاص يكنفربجواب سلام مبادرت ورزد ازعهده ديگران ساقط ميشود امابخاطربايد داشت كه جواب سلام بايد بفوريت اداشود اگربدون معذرت جواب سلام تاخيرشودشخص يااشخاص سلام داده شده گناهنگارميشوند.

موضوع ديگريكه درين موردضروريست آنست كه سلام بايد بصداي بلنداداشود تاطرف مقابل آن رابشنود اگرسلام شنيده نشود جواب آنهم بعهده طرف مقابل لازم نيست . اگر سلام دهنده كنگ بود بايد جواب سلام اوبحركت لبها ويابه اشاراتي كه اوبداند اداشود بهتروراداي جواب سلام آنست كه بگويد : وعليكم السلام حرف (و) و(م ) براي جماعت آورده شود واگرسلام عليكم بگويد نيز رواست .

سنت براي شخص مسلمان آنست كه دربرخورد اولي باهرمسلمان قبل ازهركلام ديگر به سلام آغاز كند اگر دونفربا هم ملاقي شوند وهريك بديگري سلام دهد جواب سلام برهردوجانب واجب است.

طريقه مسنونه آنست كه هرگاه انسان درمنزل خود نزد اعضاي فاميلش داخل ميشود بايشان سلام دهد اگر بمنزلي داخل ميشود كه انساني دران موجود نباشد ميگويد : السلام علينا وعلي عبادالله الصالحين . سنت آنست كه خوردان بربزرگان ، سوار برپياده ، ايستاده برنشسته وعده كم برتعداد زياد سلام دهند.اگر برعكس آنچه گفته آمديم عمل شود بازهم خالي ازصواب نيست وجواب آن واجب ميگردد اما مرحله افضليت ازبين ميرود.

اگرشخص غائب بديگري سلام فرستد جواب آن نيز واجب است اما بهترآنست كه جواب آن را توسط همان شخص سلام آورنده بفرستد واگرسلام كتباً ارسال ميشود جواب آن نيز بايدكتباً ارسال شود.

اگرمرداجنبي بزن بيگانه سلام دهد مكروه است مگر آنكه او عجوزه باشد

مذهب شافعي (رح) درين باره ميگويد كه اگر زن جوان درجاي تنها بوده باشد سلام دادن مرد اجنبي براومكروه است طوريكه سلام دادن خود اوباردسلام اومكروه است اين فرق ندارد كه آن زن جوان بدشكل وياخوبصورت باشد اما پيره زنان درين مورد حكم مردان رادارند.

درصورتيكه زن جوان بامردان وزنان ديگريكجاباشد درينصورت حكم شرعي درموردسلام وجواب آن مثل مردان است.

سلام دادن برزنان محارم طوريكه برديگران مسنون است به آنها نيز سنت است مثليكه براهل واولاد خود سلام ميدهد. سلام دادن درحمام ، براي شخص عريان ، براي هركسيكه بكاري يا وظيفه يي مشغول باشد كه بازدارنده اجابت سلام باشد جائزنيست براي اينكه عدم اجابت سبب گناه اوميشود همچنان سلام دادن دروقت تلاوت قرآن جهرا ، درحين تذكارعلم ( تدريس ) ، درحالت آذان دادن واقامت خواندن برقاضي در حاليكه درمسند قضانشسته باشد ويرواعظ درحين ايراد خطابه ووعظ اوجائز نيست ،اگربازهم بهمين اشخاص سلام داده شود جواب سلام برآنها واجب نيست.

مذهب مالكي (رح) وشافعي (رح)

دراين مورد ازينقراراست سلام دادن برقاري قرآن وهركسيكه بخواندن اذكار ، دعا ، اوراد ، نماز ، خوردن ونوشيدن مشغول بوده باشد سنت نيست.

( مذهب شافعي (رح) درموضوع سلا م به تنها يي قرارذيل است .

درحالت اذان واقامت ،برقاضي درمسند قضاوبرآنها نيكه پيشترذكرشد كراهيت ندارد بجز اززن جوان تنها كه اوسلام دهد يا براوسلام داده شود حرام است طوريكه مردي برشخص فاسق مشهوربدوا سلام مي دهد اين عمل اوحرام است سلام دادن برختني معروف حكم زن جوان رادارد همچنان سلام دادن برخطيب دحالت وعظ وخطابه اومكروه است اگربازهم سلام داده شود جواب آن واجب نيست.

اگرازميان جماعت شخصي رانام گرفته سلام دهد مثلا بگويد : يا عبدالله ! السلام عليك براي عبدالله نام جواب سلام واجب است اگر شخص ديگري ازان جماعه بعوض عبدالله نام جواب سلام را بدهد وجوب ردسلام ازعهده عبدالله نام ساقط نميشود اما اگربگويد السلام عليك واشاره به عبدالله نام كند آنگاه شخص ديگري جواب سلام دهدوجوب رد سلام از عهده ديگران ساقط ميشود زيرادراشاره احتمال اين موجود است كه سلام براي همه بوده باشد همچنان است اگربگويد : السلام عليك بدون اشاره اگر شخصي از ميان آنها جواب سلام گويد از عهده ديگران ساقط ميشود براي اينكه اگر جماعه را بخاطب واحد سلام دهد صحت دارد.

درجائيكه شخصي به تدريس يااستماع علم اشتغال داشت سلام دادن مكروه است اگرعده بخوردن مصروف بودند به اساس تفصيل مذاهب به ايشان سلام بايد داده شود .

اصحاب مذاهب درباره قرارذيل ابراز نظر فرموده اند:

مذهب حنفي آشعارميدارد كه اگر شخصي درحالت خوردن ديده شود درصورتيكه خودش بصرف طعام ميلان داشته باشد وميداند كه اگربطرف مقابل سلام دهد اورابخوردن طعام دعوت مي كند بايد سلام دهد .

والاله .

مذهب شافعي طوري است كه سلام دادن راضروري ميگويد اماشخصيكه لقمه دردهان داشته باشد جوا ب سلام را براوواجب نميدانند.

مالكيان ميگويند : برمصروف بودگان طعام بايد سلام داده شود.

حنبليان ميگويند : درين موردونظراست يكي آنكه درحالت اشتغال بخوردن كراهت دارد براي اينكه مصروف بودگان بخوردن به آغاز سلام مبادرت ورزيده نميتوانند.

نظردومي عدم كراهيت است.

سلام دادن برخوردان كراهيت ندارد بلكه بهترآنست كه جهت آموختان آداب اسلامي به آنها سلام داده شود ازينكه آنها مكلف نميباشند جواب سلام برآنها واجب نيست.

اگرطفل غيرمكلف برشخصي مكلف سلام دهد جواب سلام برشخص مكلف واجب است واگرسلام براي دو شخص مكلف ويكنفر طفل يعني آنها جمعا گفته شود بنابقول صحيح جواب سلام برهريكي ازدوشخص مكلف واجب است نه برصبي.

سلام دادن برديوانه ، مست ، شخصي كه درخواب بوده باشد وكسيكه درحالت (تلبيه ) گفتن باشد مكروه است )

آخرسلام بايد به كلمه ( بركاته ) ختم شود اگر درجواب سلام كلمه زياده بركلمه بركاته شود مكروه است .

معني آن دعاي خيروبركت است هنگاميكه عطسه زننده ازعطسه فارغ شود بايد درجواب برحمك الله گفته شود.

حكمت غامضه درين دستور اسلام آنست كه درميان مسلمانان برادري ،علايق الفت ومودت موجود است، هريك براي ديگر خود طالب خيروفلاح ميباشند ازعداوت ،عناد ، حسد وخصال مذمومه ديگردربرابر خود ها مجتنب ميباشند.

بايد عطسه زننده الحمد لله يا الحمدلله بالحمد الله رب العالمين يالحمد الله علي كلي حال گويداگر اوكلمات حمديه فوق رابرزبان نياورد مستحق جواب نميباشد.

براي عطسه زننده مستحب آنست كه بعد از عطسه الحمدلله گويد.

شرط ديگرآنست كه عطسه اوشنيده شود اگرشنيده نشود جواب آن واجب نيست طوريكه براي شنونده عطسه جواب آن واجب است . بخودعطسه زننده جواب مشخص دوم نيز واجب است كه بايد وقتيكه ازشنونده جواب عطسه را شنيد اوهم بگويد كه (يغفرالله لكم يايهدي كم الله ويصلح بالكم.)

اگرعطسه تكراريافته تاسه مرتبه جواب گفتن آن واجب است زياده ازبارسوم جواب آن واجب نيست - زنان درباره عطسه بگونه مردان اند طوريكه درسلام دادن بيان اوآمد اگرزن بيگانه در صورتيكه جوان بوده باشد عطسه زند مثل سلام دادن جواب آن ضرورنيست اگر پيره زن عطسه زند تشميت ضروراست.

برزنان محارم جواب آن مثل سلام دادن نيز واجب است زنان درميان خود نيز بايد تشميت و جواب آن رابگويند . درمذهب شافعي تشميت عاطس سنت است.

# عبدالله بن عباس(رض) مشهوربه رئيس المفسرين

محبوب الله حامد

عبدالله پسرعباس رضي الله عنهما پسرعبدالمطلب پسرهاشم پسرعبدالمناف وپسركاكاي رسول الله (ص) بود مادرش بنام لبابة الكبري دخترحارث بادمي شد، عبدالله بن عباس سه سال قبل ازهجرت هنگامي بدنيا آمد كه پيامبرعليه السلام واهل بيت شان درشعب " دره " ابي طالب بسرميبرد عبدالله بن عباس هميشه درمجلس وصحبت رسول الله ( ص ) قرارداشت زيرا ميمونة رضي الله عنها خالة آن جناب درنكاح پيامبرعليه السلام بود حضرت عبدالله بن عباس دروقت رحلت پيامبرعليه السلام به سن ١٣ سالگي رسيده بود باكبار صحابه نشست وصحبت زياد داشت احاديثي راكه ازپيغمبرعليه السلام نشنيده بوداز اوشان يادگرفت عبدالله بن عباس ١٦٦٠ حديث را ازپيامبرعليه السلام روايت نموده ودرسال ٦٨هـ به عمر ٧٠ سالگي ازدنيارحلت نمود ومحمد بن حنفيه پسرحضرت علي جنازه اورا ادانموده ودرطائف به خاك سپرده شد ، بعدازهمواركردن خاك بالاي قبرشان محمدبن حنفيه فرمود: " قسم است مرابخداوند (ج) كه امروز عالم بزرگ امت وفات نموده "

ابونعيم دركتاب دلايل روايت كرده ، پيامبرعليه السلام به مادر عبدالله بن عباس (رض) چنين فرمود " هرآئينه توبردارنده هستي طفلي رادرشكم خود پس وقتيكه تولد كردي اورا نزدمن بيارهنگاميكه طفل بدنيا آمد مادرش طفل رابانخودنزد پيامبرعليه السلام برد پيامبرعليه السلام درگوش راست او آذان داد ودرگوش چپ او اقامت گفت ونام اورا عبدالله گذاشت .

ابن عباس نظربه ذكاوت ونبوغ علمي اش لقب " رئيس المفسرين " و ترجمان القرآن راكمائي كرده ودرميان مفسرين به اين القاب شهرت داشت ، ابن عباس رضي الله عنهما به علم تفسير، فتوا، واجتهاد معرفت كامل داشت، چنانچه عبدالله بن مسعود (رض ) در مورد شهرت علمي عبدالله بن عباس ميفرمايد " نعم ترجمان القرآن ابن عباس "

يعني چه خوب مفسروترجمان قرآن است ابن عباس " طاوس بن كيسان يماني كه ازجمله شاگردان ابن عباس است ميگويد : ديدم من هفتادتن ازاصحاب پيامبرعليه السلام را وقتي كه مباحثه مي كردند درباره موضوعي به قول ابن عباس رجوع ميكردند. سبب نبوغ وفكرعالي آن جناب ازچند ناحيه بود .

١ - پيامبرعليه السلام درحق شان چنين دعافرموده : الهم علمه الكتاب والحكمة ودرروايت ديگربه اين لفظ دعافرموده " الهم فقهه في الدين وعلمه التأويل "

يعني : اي بارخدايا داناېگردان ابن عباس اعلم امة محمدبما نزل علي محمد "

يعني ابن عباس بزرگترين عالم امت محمد صلي الله عليه وسلم است برآن چيزيكه برحضرت محمدصلي الله عليه وسلم نازل شده ، منظور ازقول عبدالله بن عمر اينست كه درمعني قرآن وتفسير آن عالم است .

زركشي " دركتاب البرهان في علوم القرآن " ميگويد، وقتيكه قول ابن عباس درباره تفسير ازقرآن باديگرصحابه كرام تعارض واقع شود قول ابن عباس مقدم كرده ميشود ابن عباس رضي الله عنه مدرسه بزرگي رادرمكه مكرمه تاسيس كردكه درآن هميشه به تعليم وتدريس مشغول بود شاگردان مشهور ابن عباس ازجمله تابعين سعيدبن جبير ، مجاهد، عكرمة مولي ابن عباس ، طاوس بن كيسان وعطاء بن ابي رباح ميباشد البته ازنظر روايت شاگردان ابن عباس بعض شان بيشتر وبعض شان كمتر روايت نموده اند .

سفيان ابن عيينه كه ازجمله تابعين است ميگويد سه نفرهركدام درزمانه

اورادرعلم قرآن وسنت " ويا : اي بارخدايا دانشمندبگردان درعلم دين ودانابگردان اورادرفهم تفاسير .

٢- تربيه ورشد او درخانه پيامبر عليه السلام صورت گرفته ودراكثر واقعات وحوادث همراي پيامبرعليه السلام حضورداشت بعدازسن تميز احاديث زيادي را ازپيامبرعليه السلام شنيد .

٣- بعدازوفات پيامبرعليه السلام عبدالله بن عباس بابزرگان صحابه بيشتر صحبت ونشست وبرخواست داشت اماكن نزول قرآن واسباب نزول آنرا خوب مي دانست كه اين آيت در كجانازل شده ودرباره چه نازل شده .

٤- عبدالله بن عباس اين مفسر بزرگ قرآن به لغات عربي، مميزات ، اسلوب وخصائص قرآن معرفت وشناخت تام داشت .

٥- عبدالله بن عباس (رض) به مرتبه ودرجه اجتهاد واقف بود وبدون كدام حرج ودشواري آنچه راكه معتقدمي شد بيان وتفسير ميكرد .

صحابه كرام درمورد مشكلات وشكوك كه به ايشان پيش مي شد همه آنهابه راي وقول ابن عباس عمل مينمودند، عبدالله بن عمررضي الله عنهما درباره علميت ودانائي ابن عباس مي گويد : شان شهرت كامل داشتند ابن عباس درزمانه خود وعامربن شعبي كه ازطبقه تابعين ميباشد درزمانه خود وثوري درزمانه خود عبدالله بن عباس درجنگ حنين وطائف ، فتح مكه وحجة الوداع همراي پيامبر عليه السلام حاضر بود ودر اواخرعمرشان درچشم هاي مبارك شان درد وضعيفي پيداشد . تفسيريكه ازابن عباس باقيمانده بنام " تنوير المقباس من تفسيرابن عباس " بوده كه آنرا ابوطاهرمحمدبن يعقوب الفيروز آبادي " مصنف قاموس المحيط جمع آوري نموده .

## ازچهارگوشه جهان

### حضرت علي (رض) ميفرمايند :

- صحبت ودوستي ، مردم دور ازهم رانزديك ميسازدو عداوت ودشمني مردم نزديك را دور ميگرداند .
- هيچ كس به اندازه گناه ازچيز ديگر نمي ترسد .
- آرزو واميد خودراتنها به درگاه خداي بزرگ بپيوند .
- از آموختن شرم مكن .
- فقيه خوب وكامل آنست كه كس را ازرحمت خدا نااميد نسازد .
- بزرگترين دشمن انسان شكم اوست .
- عزتي بالاتر ازتقوي نيست .
- ازخدابترسيد تادرخوف ديگران نباشيد.
- عفو درحقيقت غلبه بردشمن است .
- اگرميخواهيدبزرگ شويد دربرابر بدي نيكي نمائيد .
- بزرگان رااحترام نماخوردان تراااحترام خواهد كرد .
- وقتي عقل به كمال برسد گفتار كم ميشود .
- خاموشي ، زيورعالم وپرده جاهل است
- علم خزانه، است كه افزايش ميبابد .
- بزرگترين خيانت نمك حرامي است .
- دين معدن است وعلم راه آن .
- درعجله ندامت ودرتحمل سلامت است
- كسانيكه شرم رادرگفتار حفظ ميدارند درافعال ورفتارهم چنان اند .
- دردنيا صداقت وامانتداري كمتر و دروغ وخيانت بيشتراست .
- اگرچه راستي خوفناك است امامنجي نيز است .
- درموردهستي فكركردن هم عبادت است
- وقتي شخصي قدرشماراندانند حتما شخص ديگري قدروي راميداند .
- ازخيال پلوهابگذرزيرا خيال پلوسرمايه احمقان است .
- عفو بهترين احسان است واحسان انسان ر اغلام ميسازه .
- درسخاوت منت گذاشتن كم ظرفيست
- توحافظ مال هستي اماعلم حافظ تو
- از دعاي بدمظلوم بترس زيرا دعاي بدمظلوم مانند شعله آتش به طرف آسمان ميرود .
- بهترين نيكي پيش آمد منبسط است . ( خندرويي )
- بهترين لقمه آنست كه از دسترنج باشد مرگ رفيقيست كه انسان ازآن آگاهي ندارد
- غلبه كردن برعادات كمال فضيلت است
- درمصيبت باصبرودرنعمت باشكرمقابله كن .
- هيچ كس راحقيرمشمار .
- بدي فاسق رايادكردن غيبت نيست .
- عادت بد، يك دشمن قوي پنجه است اماتفس پرستي ، رفيق مرگ آور است .
- انسان هميشه مادام درتفكراست .

### امثال :

- دلالت كننده مانند انجام دهنده است .
- دنيارا دو روز است روزي به نفع ، روزي به نقص .
- بهترين دارو پرهيز است .
- هرچه كني بخودكني .
- نگهداري مرد ( عاقل ) بهترازمال است .
- زوال هرنعمتي رابياد آر .
- خوارترين مردم آنست كه ازسفله معذرت بخواهد .
- خوارترين مردم كسيست كه يارونداره ( ياران ودوستان ندارد ) .
- خردنهال شاخ رفت اماگوشهاراهم ازدست داد .
- اگريكي رفت ديگري خواهد آمد .
- حوضيكه تحت مراقبت نباشد خراب مي شود ، حقوقيكه ازآن دفاع نگردد پامال ميگردد .
- پايه دين يقين سالم است .
- هرسري را دردي است .
- حاضرمي بيند غايب نقل مي كند .
- سخني كه به آن عمل نمي شود هرزه است .
- بي ابر اميدباران نيست .
- به زيردستانت مهرباني كن تا زيردستان به تومهربان باشند .
- كسيكه اميد، تونداره توهم اميد به وي مدار .
- تيرېياندازبه سوي آنكه به توتيرانداخت

## مصحف امام ( قرآن خطي دوره حضرت عثمان "رض" )

ابن كثير كه ازدانشمندان قرن هشتم هجري است مصحف شام راديده بود لذا دركتاب " فضايل القرآن" خودمي نويسد " اما مصاحف عثماني كه " مصحف امام " تلقي ميشدند معروفترين آنهاكه هم اكنون درشام وجوددارد درجامعه دمشق دوركن شرقي ايوان آن قراردارد اين نسخه قبلا درطبريه بود وسپس ازآنجا درحدود سال ٥١٨ هـ ق به دمشق منتقل گرديد ومن اين مصحف راديدم، كتاب ونبشته اي گران وبزرگ وپرحجم وضخيم بود، وباخط زيبا ، پخته و جلي تحريريافته است ودرميان جلدي قراردارد كه تصورمي كنم پوست شترباشد . فضايل القرآن ص ٤٩

ونيز نوشته اندكه ابن جزري مؤلف " النشرفي القراء ات العشر " وابن فضل الله عمري نويسنده كتاب " مسالك الابصارفي ممالك الامصار " اين مصحف شامي را ديده بودند وبه همان گونه كه ابن كثير محل آنرادرمجامع دمشق يادكرده است جاي آنراشان داده اند .

عده ازمحققان معتقداند : اين مصحف درحوزه حكومت تزارهاي روسيه درپطروگراد قرارداشت وسپس به انگلستان انتقال يافت .

درحاليكه عده ديگرميگويند اين مصحف درمسجد دمشق محفوظ بود تادرسال ١٣١٠ هـ ق به علت حريق وآتش سوزي ازميان رفت .

دا كترصبحي صالح مي نويسد : دوست من داكتريوسف به من گفته بودكه قاضي عبدالمحسن اسطواني براي اونقل مي كرد كه مصحف شامي راپيش ازآتش سوزي ديده بود اين مصحف درايوان جامع دمشق ودرميان جعبه چوبين قرارداشت .

اما ازمصاحف ديگراسنادي بدست نيست

## عسل براي دردهاي رماتيزمي ، سل ، زخم معده ، بيماري قلب ولكه هاي روي نافع است

عسل براي رفع دردهاي رماتيزم وخستگي عضلات بسيارنافع است .

برخي ازاطبا معتقداند خوردن عسل براي بيماران مبتلا به سل وزخم معده وروده نيز نافع ميباشد به علاوه عسل براي گرده هاوچشم نيزنافع است ، شايد به همين جهت است كه درين پرورش دهندگان زنبورعسل هيچ ديده نه شده كه كسي مبتلا به ناراحتي گرده ودردچشم ويافلج وسرطان شوند .

عسل براي بسياري ازبيماريهاي قلبي وجگرنيز نافع است براي مبارزه بابيماري هاي قلبي وناراحتي هاي قلب وهم چنين براي جلوگيري ازسرماخوردگي يك قاشق عسل مخلوط بايك پياله آب گرم باقدري ليمو مفيد است .

هم چنين مخلوط فوق براي رفع لكه هاي صورت نافع است .

## دوست خود راهيچگاه ازميان اين گروه انتخاب مكن .

١- احمق بي خرد : درعين حال كه حسن نيت دارد بجاي سود برايت زيان مي رساند .

٢- بخيل : كارش دوشيدن ازتواست درحاليكه خودتم پس نمي دهد .

٣- ترسو : هنگام احتمال كمترين خطرجاي خالي ميكند .

٤- دروغگو : هرقدربراستي سخن برزبان جاري سازد هرگزنمي توان به سخنانش ، بگفتارش اعتماد واطمينان نمود .

آزمون شخصيت : سه چيز است كه عقلهاي افراد باشخصيت بآن آزمون مي شود .

١- ثروت
٢- مقام
٣ - مصيبت .

## شهرگناه ( اوگوتو )

شهراوگوتو كه درجاپان موقعيت دارد دراين اواخر به شهرگناه شهرت يافته است دراين شهر به تعداد ٤٤ قهوه خانه وجود داردكه وظيفه شان مساعد گردانيدن اعمال قبيحه بوده رهبري همه مجرمين وجنايتكاران جاپان رابدوش دارند .

## تغيرعادت درتداوي سرطان امراض قلب موثر ثابت شده است

"پروفيسر آيزنيك " كه درپوهنتون لندن به حيث سايكلوجست ماهركارمينمايد ميگويد كه امراض سرطاني وقلبي بيشتر نصيب كساني ميشودكه حيات خودرا با افكارمنفي گذرانيده وهميشه درآغوش غم وغصه زندگي مينمايند ، هرگاه عادات اينگونه افراد عوض گردد امراض سرطاني وقلبي آنها خودبخود وبدون دارو شفامي يابد زيرا تشويشات روحي است كه باعث ايجاد امراض مذكورميگردند . گرچه امراض مذبور علت جسمي هم دارد اماحداكثر به علل روحي مربوط اند وي ميگويد كسانيكه حيات مسرور وخوش دارندكمترقرباني اين امراض ميگردند .

## درفرانسه بطوراوسط روزانه سه نفر خودكشي مي نمايد

درفرانسه نوجوانان بين سنين ١٥ الي ٢٤ بيشتر خودكشي مي نمايند پس ازحادثات ترافيكي خودكشي دردومين درجه قراردارد كه به حيات جوانان فرانسوي خاتمه مي دهد .

طي يك احصائيه درهرسال به تعداد ٤٠ هزارنوجوان فرانسوي خودكشي مي نمايند كه به تناسب نوجوانان انگليسي دوبرابر است .

# دي مكناتن له اكبرخان راولي

ذبيح الله شرر

دتاريخ سينه څوك نه گوري اوپاڼې يې نه راسپړي گني ډېري دعبرت كيسې پكې پټې پرتې دي څوك وخت نلري چي دچا دخبري زړي بېولالي واوري څكه چي دوي بيا دپند اوعبرت په لومه كي راگير كيږي اواخيره هغوي ته منظورنده. دعبرت نه ډكه يوه تاريخي پاڼه زمونږ دقوم دباتور بچي وزيرمحمد اكبرخان اودانگريزانو دبوشيطان مكناتن ترمينځ تاريخي تكردي. هغه وخت چي دانگريزانو پوځونه په كابل كي له هري خوا محاصره شول او دقندهار ، غزني اوجلال آباد نه دمرستي لپاره راروان انگريزان اوگوره گان هم دمجاهدينو دتورو خوراك . نوشيطان مكناتن دخپلې شرميدلي ماتي دپټولو اوپه افغانستان كي دخپل غلام شاشجاع دبقا په خاطر ،هغې زړي وسلي ته لاس واچوه چي بې اتفاقي واچوه اوحكومت وكړه . نوبې دمجاهدينو له مشرانوسره جدا ، جدا تاركي شروع كړ اوچي كوم يوبه دده دمكراوفريب په جال كي راگيرنشونو دهغوي دمرگ پسې به بې بدي ووهلي اودځيني وطن پلورونكو په واسطه بې وكړاي شول چي ميرمسجدي خان دناروغۍ په كټ كي مسموم اوعبدالله خان اڅكزي دېو خاڼن له لاسه دجنگ په ميدان كي زخمي كړي چي دهغه زخمونو له لاسه شهيد شو. خودغازيانو شهادت دمكناتن نقشي كامیابي ته نه پرېښودي څكه چي شهادت دكامیابي اوبريالیتوب په لوره پوړ ښېږ قدم پورته كول دي . دماتي مانانلري، مكناتن دوه سرلښكري شهيدان كړل خو دمجاهدينو په مينځ كي دبې اتفاقي په اچولو بريالي نشو، چي نظر بې په زلمي وزيراكبرخان ولگيد اوپيغام بې وروواستاوه چي مونږ حاضريوهمدا اوس يوميليون اودوه لكه روپۍ تاته دركړو، شاه شجاعي وزارت به هم دروسپارو اوبيا به هركال دوه لكه روپۍ دركوو خو دومره وكړه چي دمجاهدينو يوسرلښكرنائب امين الله خان لوگري بندي اومجاهدين دكابل نه لري باسه . مگر مكناتن نه پوهېده چي زمري مرداري نه خوري . دمجاهدينو مشران پخپل مينځ كي كښيناستل اودمكناتن ټولي شومي دسيسې بې يوبل ته رسواكړي اوپه پاي كي پريكړه وشوه چي دغه شيطان ته بايد يودرس وركړشي .نو وزيراكبرخان انگريزانوته داسي اشاره وركړه چي وروسره همكاري ته تياردي خو پيسي دي لري ډېري كړي . مكناتن خوښ ځچي ځوان وزيرمي په لومه كي گير شو نو بې وروسره د ليدني ځاي اونيټه وټاكله . په ټاكلي ځاي كي دواړه طرفه كښيناستل او وزيراكبرخان دخپلو مجاهدو ملگرو په ملتيا دمكناتن ټولي دسيسې اوچلوټي دهغه پرمخ ورووشيندلي . وزير ورته وويل چي تاسي بويې لوظه اوغدار قوم ياست ،اوزه ددغه بې لوظي اوغداري په بدل كي تاترهغې برمته كوم چي انگريزي پوځ مې له ملكه وتلي نه وي. اومكناتن بې په يوه جټكه راپورته كړ ،نورومجاهدومشرانو پاتې انگريزي افسران خلع سلاح اوپه مخه كړل په دي كي له مكناتن سره راغلو عسكرو ډزي وكړي مجاهدينو هم دخيبري گوزارپه سوك وركړ او وزيراكبرخان ،مكناتن پخپل لاس جهنم ته واستاوه.

نواي دتاريخ پاڼې ! ته به بيا تكرار نشي ! ايا ديونيم ميليون شهيدانو وينې به تابياونه ليكلاي شي؟

اي وينو ! تاسي به كوم اكبرخان ونه زيږوي چي دا روسي مكناتن ( روتسكوي ) دهغوي دبې لوظي اوغداري په بدل كي برمته اوياجهنم ته واستوي.

اي وينو ! تاسي كي دومره توان نشته چي زمونږ تني مشران ديرون هغوېشان دروسي مكناتن ددسيسو اوچلوټيو مقابل كي يوموټي كړي؟

اي وينو! تاسي به دامريكا بې مكناتن ( پيټرتامسن ) اوروسي مكناتن ( روتسكوي ) نقشي دېنا تركندي پوري لاهوتكړي ؟

اي وينو ! تاسي به زمونږ په مينځ كي ناست غداران رسوا نكړي ،دوي ستاسي پلورلوته بېي وهلي دي.

اواي زما ديونيم ميليون خوانيمرگو شهيدو ورونو پاكي وينې !

په تاسو دااعتبار دي چي دا هرڅه به وكړي ،دانه چي مونږ دي په حقه وارثان يو بلكه زمونږ مخونه تور دي . خو ته ډېره پاكه يې اودهغه پاك ذات درضا په خاطر توي شوي يې چي تن يې" شوروي الحاد " دغلط ټكي په شان دتاريخ له پاڼو ليري كړ.

تو !

ته به داهرڅه كوي ، ته بهمريكايي اوروسي مكناتنان همغه شان رسواكوي لكه څنگه چي دي پرون انگريزانه رسوا كړي وو ، ته به نن په امريكا بې دالرو اوروسي روبلو ځان نه خرڅوي لكه څنگه چي پرون په انگريزي روپو نه وي خرڅه شوي ، څكه چي ته پاكه يې اوپاكي وينې ځان نه خرڅوي اونه بې ددېناراوددرهم غلامان خرڅولاي شي.

## زیورمرد

محمدآصف پیام قرملي

عمل بکاربدومیل ناروامکنید
حواله بردگران کذب وافترامکنید
دروغ ویاوه سرائي نشان بدگهریست
یقین بگفته لافوك و بیحیامکنید
حذرکنید زغیبت که فعل وخوي بداست
گناه وعیب کسي فاش وبرملامیکند
اگرعفیف ونکوکاروخوب وباشرفید
دودوست رابه نمامي زهم جدامکنید
غرور وحرص وتکبر، جنون وبیخردیست
زجهل تکیه برین عمربي وفامکنید
درین گذرگه دنیاکه عمردرگذراست
بجز رفاقت نیکي به کس جفامکنید
وقاروعزت نفس است تاج وزیور مرد
به پیش ناکس وکس خویش رادوتا مکنید
زراه قوم پرستي وفرق سمت وزبان
ستم به مردم محتاج وبینوامکنید
رفاه مردم مابسته درتلاش
بکاروخدمت بیگانه اتکامکنید

## قصه ناتمام

استاد آئینه

بهره من هیچ نان گرم وآب سردنیست
عکس آنهم گرمیسرمي شود بیدردنیست
یکه تنها، جداازیاروآغیاودرو
مثل من دربیکسي خورشید تنهاگردنیست
پاي از رفتارماندودستازجنبش دریغ
زان سواري نشان درباد به جزگردنیست
ازبهارآرزو، وزبرگ وبارزندگي
درخم دیواروپران غیرکاه زردنیست
اي عروس دیرچندین جلوه دربازارچیست ؟
آزمودستي که خواهانت بجزنامردنیست
چون زمجذوبان صاحبدل کسي باقي نماند
کاراین دیوانه مستان غیرترك وطرد نیست
جوهرآدمگري باشد کرامت، لیك حیف
درباض زندگي این طرفه بیت فردنیست
زنگ "آئینه" که باخاکستر ققنوس پاك
مي نگردد، صیقلش جزاشك غم پردرد نیست
توضیح :
ققنوس مرغ افسانویست که بعداز هزارسال شبي را تاسحرمي سرایدومي سوزد ؛ دربایان، ازخاکسترش جوجه ققنوس نوپدیدمي گرد دوبهمین منوال .
العهده علي الراوي

## لاس گریوان

نورالله " حبیب یار "

داوطن دمسلمان دي په ځان پوه شه
هم یې نوم افغانستان دي په ځان پوه شه
دتاریخ پاڼوته گوره په هروخت کي
هریوکس موقهرمان دي په ځان پوه شه
تیرتاریخ مودمیرویس ، محمود په یادکړه
هریري زموږعیان دي په ځان پوه شه
ظاهرشاه دادرته ښه دي چه رانشي
زموږملك درته زندان دي په ځان پوه شه
ستاله لاسه مودحال کیسه شوه داسي
زموږلاس اوستاگریوان دي په ځان پوه شه
اسلامي حکومت ته موږه هیله من یو
دملت قانون قرآن دي په ځان پوه شه
قیادي شوري دحل معقوله لارده
شرق وغرب ته دااعلان دي په ځان پوه شه
نن چي گوري شوروي په بدحالي کي
دجهاد له زوره وران دي په ځان پوه شه
چه دحق په مینه مست ئي حبیب یاره
هرمشکل درته اسان دي په ځان پوه شه

## سخن حق

محمدامان فارغي

چشمیکه بیحیابود ازجاکشیده باد
گوشي که ناسخن شنوآیدبریده باد
هرلب کزان برون سخن حق نمي شود
بانیش اژدهاي تأسف گزیده باد
هرسرکه خاك دوست نگردد شکسته به
هردل که داغ عشق ندارد کفیده باد
ماهي که رمزمهرنداند رخش سیاه
سرویکه دلپذیرنباشد خمیده باد
هرکس صفاي نیت وخلق نکوئداشت
درخاك وخون چومرغك بسمل تپیده باد
آن گردني که شخ زغرور وتکبراست
درزیربارمحنت وخواري خمیده باد
هرسرکه گیج علم نباشد شکسته به
هردل که خیرعام نجوید کفیده باد
هرکس که پت بکاربد اقدام میکند
رسوا وشرمسار وخجالت کشیده باد
مامور رشوه خوارکه دام هوس نهاد
آهوي بخت ازته دامش رمیده باد
آن شکمي که چاق زرزق حرام شد
باخنجرعدالت وقانون دریده باد
رزق حلال مردم کاسب فزوده به
پول حرام رشوه خوران ناچلیده باد
دعوي غیرحق نبود قابل شنید
حرفي که منطقي نبود ناشنیده باد
دستي کزو داد نباشدنداده به
روي که نورعلم ندارد ندیده باد
آسان نکرده است ازآن حلقه کسب فیض
صدپیچ وخم بکوچه زلف تودیده باد
ني بوي گل نه نکهت مشك است فارغي
برچین زلف یارمن امشب وزیده باد

## زورق بي لنگر

ن - نوري

بیحس وبیچاره ام چون دست وپاگم کرده ام
زورق بي لنگرهستم ناخدا گم کرده ام
قلب افسرده چه داند کیف وحال مردحق
درحضور هرولي دست دعاگم کرده ام
مي تپم دربرزن وبازار ودشت وکوي ودر
گربیابم آنچه رامن سالها گم کرده ام
روح بیمارم بهر جامیرود بیحاصل است
چون طبیب ومرهم ودارالشفا گم کرده ام
حسرت دیدارجانان لحظه اي ازدل نرفت
من نمیدانم که اورادرکجاگم کرده ام
دردیارغربتم هرگز کسي همدم نشد
شوربخت بینوایم آشنا گم کرده ام
غیرغم نبودمراقسمت زدیوان قضا
تاکه من آن گوهر قیمت بهاگم کرده ام
نوري ازبي مایه گي بااین غزل هم ساختم
سالها شد چون اصول شعرراگم کرده ام

## پیوستون

مبارکشاه "ظفر"

که نصیب مو پیوستون شي
برمیال به اوښتون شي
دیاردیردي به خیبري
واخوکتابه سپاډرون شي
داسلام جنډه به لوړه
په قرآن به زموږبیون شي
دزندان دروازې ماتې
دننګ وبیجادبه بولیکون شي
دمرام دروستي منزل ته
به دروستي دسفرزون شي
به ستادعزت ځلمي
... یامیرګون شي
... به خدایه
... ارنون شي

## قوماندان محمدسعید نایل دشهادت له خبریال سره په مرکه کي

مرکه کوونکی محبوب الله محمد یار

[م]کاري څخه خوښي ښکاره کوم .
ځ: زمانوم رازمحمد نایل دي دلغمان ولایت دعلیشنګ دجبهي دځینو دجوزي امریم چي د ۱۳۶۲ هـ ش کال راپه دي خوا په دغوموري جبهه کي دغه مسئولیت په غاړه لرلم.

پ: فعلاً په لغمان کي جهادي وضع څرنګه ده ؟

ځ: الحمد لله په لغمان کي جهادي وضعه ډیره ښه ده مجاهدین په ډیلوموراّل سره دجهاد په لیکو کښي بودریدلي . څرنګه چي زموږ دجهاد بنیادي هدف په افغانستان کي یواسلامي حکومت جوړول دي نو له همدي امله دمسلحانه جهاد ترڅنګ په آزاد و سیمو کي مجاهدین دخپل توان په اندازه دخلکومشکلات سم حل اوفصل کوي او همدا راز مجاهدین توانیدلي چي په هره ولسوالي کي شرعي محکمي جوړي کړي ترڅو دخلکو حقوقي جزایي اوذات البیني شخړي داسلام دسپیڅلي شریعت له مخي په حل اوفصل کړي شي.

لکه چي دعلیشنګ اودولت شاه په ولسوالیوکي دوه جید اوتجربه کارعالمان یوهرمحترم مولوي صاحب الله بیاني احمدي اومحترم قاضي محمد امین غفوري دحزب اسلامي مرکز له خوارسمي قاضیان مقرر دي چي داسلام مقدس شریعت په رڼاکي دحنفي فقه په اساس فیصلي کوي.

موږ په علیشنګ کي علاوه له القاروق (رض) قرارګاه څخه چي دملحد حکومت په مقابل کي په لومړي خط کي موقعیت لري اوتقریباً دري سوه کسه مجاهدین پکي دائمي اودولت یې دمحاصري په شکل ساتلي دي. لس فرعي قرارګاوي لروچي دمنطقي امنیتي پوستوحیثیت لري پراته وي .

مجاهدین په لغمان کي دارشاد اوفرهنګ سلسله هم تعقیبوي دیوي جوړي شوي لایحي له مخي په هره ټاکل شوي منطقه کي په ټاکلي وخت سره علمي حلقي جوړیږي ترڅوداسلامي پوهي په رڼاکي اسلامي جهاد اسلامي خط سیرتعقیب کړي اوانحراف ونه کړي.

همدارنګه مجاهدینو په لغمان کي دتعلیم اوتربیي په برخه کي ډیرکارکړیدي ، ديني مدارس یې فعال کړیدي ، اسلامي روزنه پکي روانه ده په علیشنګ کي موږاتلس ديني مدرسي لرو په شمول دي ددولیسو اوبوشرعي معهد چي دامام ابوحنیفه (رح) شرعي معهد په نامه یادیږي .

استادان ،شاګردان اوټول پرسونل یې پیره دارانو سره اتیاکسوته رسیږي . دغه مدرسه دلیلیي په شکل جوړه شویده تهیدي ، لري اوډویم ، دري صنفونه لري دالعون الاسلامي له خوا اعاشه اواباته کیږي . دغه مدرسه یوه ښکلي اومجهزه کتابخانه هم لري چي له درسي کتابونو نه علاوه اکثر ضروري کتابونه پکي موجودي دي.

دتوموري اداري له خوا یودارالایتام هم جوړشویدي ، تعمیري کارونه تقریباً په سلوکي نوي ترسره شویدي نور ضروریات یې تیاردي په نوي کال کي که خداي کول په ابتدایي مرحله کي سل کسه یتیمان به پکي دلیلیي په شکل روزل کیږي .

پ: دوروستیو جنګي عملیاتو په هکله که معلومات راکړي همدا راز روایي چي ستاسي په ولایت کي دحزب اسلامي دمجاهدینو اړیکي له نورو جهادي تنظیمونو سره څه ډول دي .

ځ: داخبره ښکاره ده چي دلغمان ولایت زیاتي برخي دحزب اسلامي مجاهدینو اداري اوکنټرول لاندي دي . په قرغیوولسوالي کي یوالحي دحزب اسلامي مجاهدین دي خویه علینګاراوعلیشنګ کي دحرکت انقلاب اسلامي ورونه هم شته دي موږ له هغوي سره ښې اواسلامي اړیکي لرو نه یوالحي داچي په عملیاتوکي له موږ سره مشترکه برخه اخلي بلکي په علیشنګ کي په اداري ، قضایي اومالي برخوکي هم کارونه دتفاهم اوشوري په اساس ترسره کوو.

په همدي وجه وروستي عملیات په ملحددولت باندي دیوي مشترکي شورا اوګډي اعلامیي خپرولو څخه وروسته شروع شول چي دحرکت انقلاب اسلامي مجاهدینو هم له موږ سره برخه درلوده .

دالله تعالي په کومک سره په دي جنګ کي مجاهدینو لوي بري ترلاسه کړ اودښمن ته ډیرځاني اومالي تاوانونه ورسیدل ، سملوکسانو په شااوخواکي ملحدان اودروس ګوډاګیان زخمیان اومړة شول ، یولس پوستي یې ونیول شوي ، یوه دمهماتوډیپو وسوزول شوه څوټانکونه ویجاړ شول اودځلوینشوکسانو په شاوخواکي ملیشیان اودقومي غند څخه خرڅ شوي مسلح کسان مجاهدینو ته تسلیم شول چي په لاندي ډول دځیني نومونه اخلم :

۱- دسیدمحمد په نوم دیوي پوستي قوماندان له اته ومسلح کسانو سره .
۲- محمد ثواب دبلي پوستي قوماندان له اوومسلحوکسانو سره .
۳- عبدالشکوراداري مدیرله دریوکسانو سره .
٤- جګتورن عصمت الله اوضابط قاعدین له دووکسانوسره .
٥- اته ویشت کسه په ترغیبوکي مسلح نیول شوي دي چي اوس هم د بندیانو په شکل ساتل کیږي.

دمجاهدینو نه په په مجموعي طورسره دیرشوکسانوشااوخواکي زخمیان اوشهیدان شوي دي.
اناالله وانا الیه راجعون .

دمنطقي ډیر بیدفاع خلک زخمیان اوشهیدان شویدي اوډیر داوسیدو کورونه دهوایي بمباردمان اوځمکني درندو وسلو په واسطه وران اوویجاړشول اوډیر خلک ددولت شااوخوا کلواوبانډو ته نوي مهاجر شول .

پ: دلغمان په ولایت کي ددولتي ځواکونو روحیه څنګه وه ؟

ځ: ټولومسلمانو ملتونو او دازادوفکرونو والا خلکوته داثابته شوه چي دافغانستان قهرمان ملت داسلامي جهاد اوقربانیو په نتیجه کي انسان دښمنه سور بیزله داسي ماتي اوبین المللي رسوا یې سره مخ شوي چي په مسکوکي یې هم پښي نه ټینګیږي ، دکمونیزم کرغیړنه څېره ټولي نړۍ ته ښکاره اوڅرګنده شوه ، روسیه نن ترکړي ترکړي ده دداسي اقتصادي مشکلاتو سره مخ ده چي هرڅوك یې وینې . نو کله چي دکابل رژیم دبادارانو داحال دي نودګوډاګیانو حال به یې څرنګه وي !

دافغانستان خلك حتي دملحد رژیم ملګراوډنجیب دخارنمي هم په دي پوهیږي چي کمونیزم یوه پوچه اوبې بنیاده ارتجاعي فلسفه ده چي انسانانو ته دګوریه ځاي ګور اودودوي په ځاي خاوري اوډجامو په بدل کي کفن ورپه برخه کوي . وبالاخره کمونیزم دانسان ډېرپادي هلاکت اوتباهي یوجوړشوي غلط نظام دي.

په همدي اساس نه یواځې د رژیم پلویانو په لغمان ولایت کي جنګي روحیه دلاسه ورکړي دټو افغانیو په مقابل کي خرڅ شوي اوبندیانو په حیث په پلتناژونوکي ژوند تیروي بلکه په ټول افغانستان کي دوي نور دجنګ توان نه لري.

څو کوښښ کوي په مجاهدینو کي دیني اتفاقي اسباب برابرکړي اود ګمارل شوي پدروطن غړو په واسطه خپلي دسیسي په کاروانچوي اود جهاد مخه ونیسي دنجیب دصلح پروګرام هم ددغو دسایسو څخه یوه دسیسه ده اوبس.

که خداي کول دغه وروستي مکراونیرنګ به یې هم بې نتیجي شي په یوشرط :

چي مجاهدین داسلامي ورورولي په اساس متحد اویو موټي وي ، اوخپل اسلامي جهاد ته ادامه ورکړي.

پ: دمجاهدینو دقیادي شوري په باب څه نظرلري ؟

ځ: په دي کي شك نشته چي دافغانستان مسلمان ملت اودحق سنګرقوماندانان ډیرېخوانه ددي خبري غوښتونکي ؤ چي دجهاد مشران دي یوه قیادي اسلامي متحده شورا ولري اوپه هغه کي دي دافغانستان جهاد اوپه آینده کي داسلامي حکومت مسئلي وڅېړي داسلام مقدس دین په اصولو سره سم پکي پیشنهاد ونه طرحي اوفیصلي وشي خوپه لاندي شرطونو:

۱- په شورا کي ګډون کونکي کسان په مجاهد اودحل اوعقد اهل وي ، دیوه اسلامي جهادي تنظیم له خواپس له تزکیي اوتائید نه په دغه شوراته وړاندي کیږي.

۲- په دغوشوراکي به دحق سنګر قوماندانان شاملیږي ،خوهغه کسان چي دافغانستان په روان ۲ جهاد کي عملي برخه نوي اخستي دشملیدو حق به نه لري.

پ: که مجاهدینو ته څه پیام لري؟

ځ: په اخره کي دحق سنګر مجاهدینو ته زماپیام دادي چي :

خپل جهادي قوتونه دي متحد کړي اودجهاد سنګرونه دي ټینګ وساتي دورك کیدوپه حال دښمن باندي اخرني ګوزارلپاره دي ځانونه تیاراوچمتوکړي ترڅو ددوي دکلك ګوزار په نتیجه کي شرمیدلي اودماتي خوړلي کمونیزم پاتي کسان داهډ لپاره دافغانستان څخه محوه اوتابود شي.

دافغانستان دمجاهد ملت اودحق سنګرقوماندانانو په لاس جوړشوي اسلامي حکومت په هیله :
په دره ناوي
الحاج مولوي سعید " نائل "

## ژمنه چیغه

سیدولي "قاطن"

توحید وپاك هدف کي ژندانونه قبلوم
دننګ ، ناموس لپاره تکلیفو نه قبلوم
راخلاص چي کرم بي وزلي، داړه مارو دپنجونه
غراب که هتکړي وي، ځنځیرونه قبلوم
شر نګهارډزولنو، ښکلي ګاڼه دناریتوب ده
دقام وطن په غم کي تل جیلونه قبلوم
نوکان رانه وتلي، که څوك سترګي رانه باسي
له عهده په شانه څم تیل داغونه قبلوم
ژوندي چي پري اسلام شي دتن غوښي به تري خارکړم
دحق وباطل جنګ کي کړاونه قبلوم
پیدایم له موره زولنوولچك لپاره
صاحب دعقیدي یم توپانونه قبلوم
آزاد ژوندون لپاره شهادت مي دي منلي
دخوږاسلام په مینه زحمتونه قبلوم
پاځون چي وي سپیڅلي خامخاقرباني غواړي
ترڅومقصود ته رسم عذابونه قبلوم
کاروان دشهیدانولاروان دي ستړي نه دي
منزل زموږ درازدي منزلونه قبلوم
رېي د " لااله " چي په کابل شي په رېا
بیا هلته به " قاطنه " داخوبونه قبلوم

## دسبازیري

نوراحمد " احمدي "

زه دتوپك په خولي رڼاخوروم !
دقلم نوکي نه ښکلاخوروم
دسبازیري په تورتم یمه زه
مړاوو ګلونوته شبنم یمه زه
ویده قومونه چي مي ویږنول
هاغه نغمه دزیراویم یمه زه
نن ددنیا دخپلواکي دغورځنګ
دهرکاروان سالار قدم یمه زه
چي داموله ځپو واوښتمه
خوږه ورځمه یې چم پهځم یمه زه
ناندري به ولي رقیبان نه وهي
چي استکبار دپاره غم یمه زه
دخوشحال خان غوندي په ننګ دافغان
خاوند دتوري اوقلم یمه زه
دابدالي دعظمتونو په ویاړ
له سره تیر په دي علم یمه زه
دځوریدلي ربړیدلي ولس
دهرزخمي زړګي ملهم یمه زه
چي دمیرویس دشملي پت وساتم
توره ترملابه په هردم یمه زه

## دوحدت آواز

محمدسالم "انوري"

راځي ونیسو تصمیم په اهتمام
دیوبل وکړو تعظیم په احترام
یواوبل ته په اخلاص لاسونه ورکړو
ترڅوپیرزوي رب په موږاکرام
په حالت دمظلومانوځان خبرکړو
چي دي کونډي ، معیوبین اوباایتام
وطن ټول په کندواله دي بدل شوي
ورته جوړدابادیه کړو انتظام
ددښمن دتوطئو قرباني نه شو
که هرڅوراباندي وکړي دوي الزام
داغیارو خوږ کلام به مولمبه کړي
که هزارځله وفدونه کړي اعزام
موږ مدد له خدایه غواړو په حق لارکي
دښمنان که دسیسي کړي پااتهام
په تحمیل ئي بې تعصبه امیدواریو
که په ظن ئي تعبیرنکړي پاابهام
داسلام جنډه به پورته که رب وکړي
انوري ئي به امیددانسجام

## په ځان پوه یي که نه

محمدکریم " رحیمي "

مسلمه جوړي دسیسي دي په ځان پوه یي که نه
داستعمار په تاحملي دي، په ځان پوه یي که نه
دښمن دي ښه قوي وهلي، دجنګریز په میدان
دپردي شاته توطیي دي ، په ځان پوه یي که نه
دروس په ماته کارتمام نه شو ځیرك اوسیږه
شاوخواپټي ګونګسي دي په ځان پوه یي که نه
دښمنان ټول دي وارخطا اسلام زغملي نشي
دکفردغه ناکردي دي په ځان پوه یي که نه
ستاپه جامه کي خپل مزدورغواړي حاکم کړي په تا
دامریکا دغه نخري دي په ځان پوه یي که نه
ستادلکونو شهیدانو انتقام په بدل
رامخ ته کړي ځوځهري دي په ځان پوه یي که نه
داچي په نوم دقومیت مذهب ماڼوتاجنګوي
دغه دغیرومعاملي دي په ځان پوه یي که نه
کوم چي بیرون نه تپل کیږي وي حتمي به غلام
داستعماردلاس آلي دي په ځان پوه یي که نه
راځي لاسونه یې ورلنډکړو ښه یې ویږنو
زمااوستادسرکیسي دي په ځان پوه یي که نه
د"رحیمي" خبري واوره دزړګي په غوږو
چي په آزغودي سپاپسي دي په ځان پوه یي که نه

# دپاکستان له مومن ولس نه زما...

كه موږ وتوانيدلاي شوچي روسانوته ماتي ورکړو وانشاء الله نوري توطئي به هم په آسانۍ سره دالله په مرسته شنډه وو .

دسه شنبي ورځ د ۱۳۷۰ کال دمرغومي ۱۷ مه نيټه - شهادت !
دحزب اسلامي مجاهد امير ورووحکمتيار دروانوسياسي حالاتو اودافغانستان په ستونزه پوري اړوندو پيښوپه ارتباط سپينه شګه دسما قرقي په قرارګاه کي له بهرنيو خبريالانوسره يوه مرکه کړي چي داده د درنولوستونکو لپاره يي خپروو .

( اداره )

بسم الله الرحمن الرحيم

زه ترټولو دمخه دمحترم ژورنالستان راتګ ته مبه راغلاست وايم چي دااووږده مزل زحمت يي په ځان باندي قبول کړ اوپدي واورو اوپخني کي يي تردي ځاي پوري دراتلوتکليف وايستلو ، زه ډيرممنون يم .

زموږ جهاديوي داسي حساسي اوتاريخي شيبي ته رسيدلي چي ددي ديارلس کلن جهاد سرنوشت به ټاکل کيږي .

دښمنانوکوښښ دادي چي په افغانستان کي دمجاهدينوپه لاس اسلامي حکومت قائم نه شي . هغوي نه غواړي چي افغان ولس دي خپل سرنوشت پخپله وټاکي اودخپلي خوښي اسلامي حکومت دي جوړکړي . دوي دخپلي خوښي حکومت پرافغان ولس تحميلول غواړي اوددي هڅه کوي چي په افغانستان کي دتل لپاره جګړه ادامه وکړي ، عدم استقراردي وي اودلته دي سوله اوامن رانشي ته شي اوله افغانستان نه دي يوبل لبنان جوړشي .

پداسي حال کي چي دپاکستان مسلمان ولس پدي ديارلسو کلونو کي په اخلاص ، صبر اواستقامت سره دافغان ولس دخپلواکي دجګړي ملاتړکړي اودفشارونو په وړاندي ندي تسليم شوي . دافغان جهادوله ملاتړ نه يي لاس ندي اخيستي اوتل يي پدي خبره ټينګارکړي چي افغان ولس دي خپل سرنوشت پخپله وټاکي اودنجيب حکومت پرځاي دي چي دپرديو پوځونو په لاس پرافغان ولس تحميل شوي يومنتخب اسلامي حکومت جوړشي .

موږدپاکستان له ولس نه ممنون يو پاکستان کي که اقتدار دهرچاپه لاس کي وي اودافغانستان په باب که دحکومت پاليسي هرڅه وي، موږدپاکستاني ولس دايښګڼي هيڅکله هم نه هيروو .

متأسفانه په پاکستان کي ځينوحلقو تل ددي کوښښ کړي چي په افغانستان کي دي دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت جوړنه شي اودوي ددي هڅه کړي چي ظاهرشاه په افغان ولس باندي تحميل شي . دي حلقي په اصل کي دامريکا دخوشحالولو لپاره دمجاهدينو دحکومت دجوړيدو مخالفت کړي اودظاهرشاه دراوستلوکوښښ يي کړي .

زه په صراحت سره ويلي شم چي دي حلقي ته نه خپل ملي مصالح مهم دي اونه هم دافغان ولس مستقبل . متأسفانه په اسلامي هيوادو کي ځيني داسي حلقي هم شته چي هغه دامريکايانو نه هم زياتي امريکائي دي .

ددي لپاره چي هغوي اقتدارترلاسه کړي پايه اقتدارکي پاتي شي. د امريکا رضايت ضروري ګڼي، له هغه پرته ګومان کوي چي نه اقتدار ته رسيداي شي اونه هم په اقتدار کي پاتي کيداي شي . دوي هماغه څه وايي او هماغه څه کوي چي امريکا ورباندي خوشحاليږي . ددي لپاره چي امريکا دبنيادګرايانو مخالف دي اودهغه لپاره لګيادي تبليغات کوي، دوي هم دبنيادګرايانو مخالفت وکړي اوددمنطقي لپاره يوخطر ګڼي . ماته داسي معلوميږي چي اوس دهمدغي معيني حلقي دهڅو په نتيجه کي دپاکستان حکومت دامريکا ددي پلان سره موافقه کړيده چي ظاهرشاه ته اقتدار ورحواله شي . دظاهرشاه سره په روم کي دپاکستان دپوځ دلوي درستيزدليدني کتني پروګرام برابرول اودپاکستان حکومت له هغه سره موافقه داښيي چي شايد دپاکستان حکومت ددي خبري سره موافقه کړي وي . زمامعلومات دادي چي دايتاليا حکومت غوښتل چي دملاقات دظاهرشاه په قصرکي وشي ترڅو ظاهرشاه ته زيات اهميت ورکړي . خوچي کله دغه ملاقات هلته ونشونو بيادپاکستان په سفارت کي دليدني کتني لپاره ترتيبات ونيول شول . دايتاليا حکومت، ظاهرشاه ته مشوره ورکړه چي سفارت ته دملاقات لپاره ورتشي اودهغه په ځاي يي سردارولي ورولېږلو . له دي نه دمخه به دپاکستان حکومت دزياتو فشارونو سره سره ددي خبري منلوته تياري نه ښودلو او دهغه مخالفت يي کولو . انګريزانو ، امريکااو هند هميشه ددي کوښښ کړي چي پاکستان دي خبري ته تيارشي يامجبورشي چي اقتدار ظاهرشاه ته وسپارلي شي او دهغه له راتلوسره موافقه وکړي . ولي دپاکستان دحکومت

**دروسي اسراوودساتلوپومقصد دادي چي داپرروسانوباندي دکشالي دحل لپاره دفشارپوه اله شي**

اوخاص طور دپوځ پاليسي داوه چي بايد راتلونکي حکومت دافغان ولس په خوښه جوړشي .

اوله بهرنه پرافغان ولس باندي حکومت تحميل نه شي اوکه ددي هڅه کيږي نولټرليه پاکستان بايد په هغه کي طرف نه وي . زه دپاکستان دهغو مسئولو حلقو اوشخصيتونو نه ممنون يم چي نه يي دي غوښتي چي پاکستان دي دافغان ولس په خلاف په بين المللي سازشونو کي شريک شي اوتل يي په دي خبري باندي ټينګارکړي چي راتلونکي حکومت دي دافغان ولس په خوښه جوړشي اومنتخب حکومت دي ددي موجوده حکومت ځاي ونيسي ، زما معلومات دادي چي دنيرحکومت په دوران کي هم ددي کوښښ وشو چي دظاهرشاه دراتلولپاره لارهواره شي . پدي باب هند - کابل - ايران - روس اوامريکاته هيأتونه وليږلاي شول اوله هغوسره خبري اتري وشوي، ولي دمعلومات له مخي پوځ ددي سره موافقه ونه کړه دنيرحکومت صدراعظمي محترمي بي نظيربوټو ماته دياسرعرفات په مخ کي همداخبره وکړه اوياسرعرفات مخصوصا داخبره وکړه چي بايد تاسو چي دملت ديوي لويي برخي نه نماينده ګي کوي اوقيادت اورهبري دتاسو په لاس کي ده اوترټولو نه ستراومنظم حزب دتاسودي ، ددي مسئلي دحل لپاره راوړاندي شي او په افغان ولس اوپه دغوکسانو چي دافغان ولس په خلاف يي داجنايات کړي رحم وکړي ، داستادقوم اودولس زامن دي اوهغوي په خپله غيږه کي ونيسي او يابوائتلافي حکومت ومني، مادائتلافي حکومت مخالفت وکړاوومي ويل چي داغيرعملي دي ، نوويل يي چي مؤقتا ظاهرشاه قبول کړي . خوماياسرعرفات ته په هغه ميټنګ کي چي محترمه بي نظيربوټو اودهغي ټول مشاورين اودبهرنيو چارو دوزارت تقريبا اکثرمهم پرسونل حاضروو ځيني وزيران او مشاورين يي هم وو بياداخبره په واضحو الفاظو سره وکړه چي ظاهرشاه په راتلونکي افغانستان کي هيڅ چانس نلري اودهغه دراتلوهيڅ امکان نشته او افغان ولس ديته تيارندي چي هغه ديوي شيبي لپاره هم ومني .

ماته دبي نظيربوټويومشاور چي زه دهغه دنوم له اخيستلو نه ډډه کوم په يوبل خصوصي ميټنګ وويل چي که ظاهرشاه راشي نو تاسويه څه کوئ، ماويل طبيعي ده موږبه جګړه کوو، نوهغه

**ظاهرشاه په هغه صورت کي راتلاي شي چي دببرک په شان له بهرنه څولکه پوځ دهغه په څنګ کي راشي اوداپوځ هغه دببرک په شان پرخلکوتحميل کړي**

په خندا اوټوکو سره وويل چي بيا به موږدتاسوپه خلاف جنګيږو، ددي نه معلوميدله چي هغوي څه وايي . خوموږګومان نه کولو چي دموجوده حکومت په دوران کي به داسي کاروشي چي پاکستان دي دظاهرشاه له راتلوسره موافقه وکړي . د متأسفانه ماته څوورځي دمخه دپاکستان دحکومت ديومسئول شخص له خوا ويلي شول چي ګويا روس - امريکا - ايران - سعودي اوپه پاکستان کي ځينو حلقو اوتاسويي پيژني چي ځيني افغاني ډلوهم ، ټولو ددي سره توافق کړي چي ظاهرشاه دي راشي اودعبوري حکومت قيادت سمبال کړي . تاسو داخبره ومني . که تاسو داخبره ومنله نومسئله حل کيږي . تاسو هغه ديوي مؤقتي مودي لپاره قبول کړي دکافي بين المللي تضميناتوسره چي داحکومت به په يو دائمي حکومت نه بدليږي اوددي حکومت په دوران کي به خامخا انتخابات ترسره کيږي اوپه انتخاباتو کي ولس تاسوسره دي ، اکثريت به تاسو ترلاسه کوي دتاسو حکومت به جوړيږي ، تاسو ديوي محدودي مودي لپاره له هغه سره موافقه وکړي چي ظاهرشاه راشي . که تاسي داخبره ومنله نورونو دامسئله حل ده . ماورته وويل چي زه ديوي شيبي لپاره

هم دظاهرشاه منلوته تيارنه يم او ددي لپاره يي هم نه منم چي پردي يي غواړي . تاسو شايد ددي لپاره توجيه ورڅندي کوي چي پردي يي غواړي نوتاسو هم ورباندي موافقه ځرګنده کړي اوزماله خواپه دي خاطر ظاهرشاه دمنلو وړندي چي نوريي غواړي .ماويل چي نورغواړي هغه دپاچاپه حيث راولي نه ديومؤقت حکومت درئيس په حيث . هغه ديوشخص په حيث نه راولي بلکي

داهغه زوړ سيستم بيرته پرافغان ولس تحميلول غواړي ماويل که تاسو دمسئلي حل غواړي ، نوموږديته تياريو ، نجيب دي لري شي اودهغه ځاي دي يو مؤقت حکومت ونيسي ، پدي مؤقت حکومت کي بايد غيرمتنازع فيه شخصيتونه عضويت اوغړيتوب ولري، بيا اوربند تأمين شي ، بيادي انتخابات وشي اوقدرت دي منتخب حکومت ته انتقال شي .

نجيب اوملګري يي ، ظاهرشاه اوپلويان يي اوداحزابو مشران ټول متنازع فيه شخصيتونه دي له دغونه پرته دي يومؤقت حکومت جوړشي . که په بنګله ديش کي داسي عبوري حکومت راتلاي شي نوپه افغانستان کي ولي نشي راتلاي ، که په پاکستان کي دجناب جتوئي صاحب عبوري حکومت جوړيداي شي نوپه افغانستان کي ولي داسي عبوري حکومت نشي جوړيداي .

ماتيله ورځ په يوه ګډه جلسه کي نورو رهبرانوته وويل چي که غواړي داقتدار لپاره نوروپه افغانستان کي وينه توبي نشي ديوبل په خلاف وسله استعمال نشي ، دپوځي اقداماتو له لاري دقدرت دلاس ته راوړلو هڅه ونشي نوراځئ په يو دغسي عبوري حکومت توافق وکړو، بيا انتخابات ديواصل په حيث ومنو چي ددي نه بعد به اقتدار دتل لپاره ديولاس نه بل لاس ته صرف دانتخاباتو له لاري نه انتقال کيږي اوله بلي لاري نه به څوک د قدرت دلاس ته راوړلو کوښښ نه کوي

راځئ تعهدوکړوچي دسازشونو له لاري نه به حکومت ته درسيدلو کوښښ نه کوو، بلکي پدي باندي تعهد وکړو چي راتلونکي حکومتونه به دافغان ولس رايي ته دمراجعي کولو له لاري نه جوړيږي .

ماهغوي ته وويل چي زه دي ته تياريم چي دزروکسانونومونه تاسوته درکړم . له حزب اسلامي نه پرته دنورو پارټيو او افغانانو، ددوي له منځه دي يوحکومت جوړ شي ، صدارت دي هم هغوي ته وسپارل شي ، موږخپل وزارتونه هم نوروته سپارو ،موږدا منو . وموويل که تاسو ددي ناجبي نه ويره لري چي حزب په پوځ کي نفوذ لري، حزب زيات شمير وسلوال مجاهدين لري، نوزه دي ته تياريم چي تاسوته په هروالفاظو په هرترتيب چي تاسو مطمئن کيداي شي اطمينان درکړم چي حزب به ددغي خبري په نسبت تعهد کوي ددي حکومت به مرسته کوي، دانتخاباتو نتائج به مني اوچي چاهم اکثريت ترلاسه کړ دهغه حکومت به قبول کړي .

زه همدغه حکومت چي نوري پارټي يي جوړکړي ، ددي زرو کسانونه ځيني انتخاب کړي اوداحکومت جوړکړي ، زه هغه منم . مشروط پدي چي داحکومت حتما بايد عبوري وي ، دغيرمتنازع فيه شخصيتونونه جوړشوي وي . انتخابات تضمين شي . ترپو کال نه په کمه موده کي انتخابات ترسره شي اوله بهر نه په افغان ولس دحکومتونو دتحميلولو هڅه ونشي . زموږصرف دغه شرائط دي .

زموږ حزب په غير منتخبوحکومتونوکي نه دصدارت لپاره کانديدي اونه په کي وزارتونه غواړي . خوکه څوک له نورو لارونه دحکومت جوړولو هڅه وکړي نومعني .بي داده چي هغه نورو احزابوته دجنګ بلنه ورکوي . پدي صورت کي به مسئوليت دهغوي په غاړه وي اوپدي بايد هم ټول پوه شي چي دنوروللارو نه پرافغان ولس باندي دحکومت کولو امکانات دتل لپاره ختم شوي . زه داتپوس کوم چي ولي وظاهرشاه خبره کيږي ؟

مګر دظاهرشاه نه پرته بل افغان نشته چي ددي اهليت اوکفايت ولري چي هغه دمؤقتي مرحلي لپاره دافغانستان چاري سمبال کړي ؟

حال داچي هغه زوړ ، بي کفايته ، نااهله ، مفسد او ترټولو نه زيات متنازع فيه دي . په بل هرشخص شايد توافق راشي خوپه ظاهرشاه باندي توافق محال دي .

زه دهغوکسانواستدلال ته هم حيران يم چي وايي حالات بدل شوي ، دروسيي امپراطوري ختمه شوي، دمرکزي آسيا محکوم رياستونه خپلواک شوي اواوس پاکستان غواړي چي دافغانستان مسئله ډير ژرحل شي، ترڅوهغه ددغوخپلواکو مستقلو هيوادوسره اقتصادي اوسوداګري اړيکي ټينګي کړي ، پدي خاطر پاکستان مجبور دي چي دافغانستان مسئله ډير ژر حل کړي . چاويلي چي پاکستان دي دافغانستان مسئله ژرنه حل کوي ؟!

څومره چي کولاي يي شي هومره دي ژرحل کړي . هيڅوک ددي مانع ندي . خو دظاهرشاه په راتلوسره دافغانستان مسئله نشي حل کيداي اودظاهرشاه په راتلوسره دافغانستان له لاري دپاکستان اوهغواسلامي خپلواکورياستونو ترمنځ لاره هم نشي پرانستل کيداي ! داهدف په هغه صورت کي ترلاسه کيداي شي چي په افغانستان کي يوقوي مستقر حکومت راشي، ملك اداره کړاي شي . چي په افغانستان کي عدم استقرار وي ،

**زموږحزب په غيرمنتخبوحکومتوکي نه دصدارت لپاره کانديد دي اونه پکي وزارتونه غواړي**

جګړه وي ، بي امنيتي وي ، ضعيف حکومت وي، څنګه هغه ګومان کوي چي نوروملکونو ته به ددي لاره هواره شي چي دمسلمانو اوخپلو اکورياستونو سره اقتصادي اوسوداګري اړيکي له دي لاري تأمين کړي . ظاهرشاه نوردافغانستان له اداري نه عاجزدي ، افغانستان اوس هغه زوړ افغانستان ندي چي داسي ضعيف اوناأهله خلك ورباندي حکومت وکولاي شي . دده په راتلوسره به جګړه خامخا ادامه کوي . ظاهرشاه په هغه صورت کي راتلاي شي چي له بهرنه څولکه پوځ دهغه په څنګ کي راشي اوداپوځ ظاهرشاه دببرک په شان افغان ولس باندي تحميل کړي له

**متاسفانه په اسلامي هيوادوکي ځيني داسي حلقي هم شته چي هغه له امريکايانونه زياتي امريکايي دي**

دي نه ماسوا دبلي لاري نه نشي راتلي .

شايد ځيني ديته زړه ښه کړي چي کيداي شي ظاهرشاه پدي ترتيب راشي چي صرف نجيب بدل شي، پوځ به خپل حال وي ،خاد ، مليشه ، داموجود اداري پرسونل ټول پخپل ځاي پاتي شي ، صرف يوشخص بدل شي، نجيب ولاړشي او دهغه ځاي ظاهرشاه ونيسي اوپدي ترتيب شايد ظاهرشاه پدي وتوانيداي شي چي ملك اداره کړي . خو زه لومړي داخبره مستحيل ګڼم ، دنجيب په تلو سره به هرڅه بدليږي اوهيڅ اداره به هم پخپل حال نه پاتي کيږي . دامريکائيانو طرحه همداده چي غواړي نجيب اوغرب ګرايان سره په يوي ائتلافي جبهي کي راغونډکړي ، بيا هغوي يوائتلافي حکومت جوړکړي .

بياددي ائتلافي حکومت مشري ظاهرشاه ته وسپارل شي . داسي ګومان کوي چي پدي ترتيب کيدلاي شي . دنجيب ټول نظم او اداره اوقوت به په خپل حال پاتي شي اومنتها غرب ګرايانو ولي به هم په هغوي علاوه شي ، شايد پدي ترتيب دائتلافي حکومت وتوانيدلاي شي چي افغانستان اداره کړي .

دامريکاځرګندا ورسمي موقف دادي چي لومړي بايد اوربند تأمين شي، بيابين الافغاني مذاکرات ، بيا لويه جرګه اودهغي له لاري نه دائمي اوثابت حکومت .

موږوايوچي بايد لومړي عبوري حکومت دغيرمتنازع فيه شخصيتونو نه ، بيا دقدرت انتقال دي عبوري حکومت ته ، بيااوربند بياانتخابات .

زه نجيب اودهغه دملګروحالت ته هم حيران يم چي هغوي څنګه تصورکوي چي دظاهرشاه په راتلوسره به دهغوي مستقبل تضمين او تأمين شي . که ظاهرشاه راځي نوحقيقت دادي ، چي ددوي مستقبل سخت په خطرکي دي . هيڅوک به ددي توان اوقدرت ونلري چي د هغوي راتلونکي تضمين کړاي شي . حتي دهغوي ژوند تضمين کړاي شي .

څوک چي غواړي له افغانستان نه لبنان جوړکړي ، صرف دغه کسان به دظاهرشاه دراتلوغوښتنه اودهغه سره به موافقه کوي . عجيبه اوداتأسف وړ خوداده چي اورو ، دايران موجوده حکومت هم ددي سره موافقه کړي . دايران په باب هم ويل کيږي چي هغوي ددي سره موافقه کړي خو ايران تراوسه رسما ددي خبري تأييد اوتکذيب ندي کړي .

زه ايراني ولس ته وايم چي که په افغانستان کي شاهي نظام راګرځيداي شي نوپه ايران کي هم داتجربه تکراريداي شي ، خوزه باورلرم چي دايران مسلمان ولس اودايران مؤمن انقلابيون به هيڅکله ديته اجازه ورنکړي ، صرف يوه محدوده اوغربي مشربه حلقه دغه کارکوي .

دپاکستان له مؤمن ولس نه زما انتظار دادي چي پرېنږدي چي پاکستان دافغان جهاد په خلاف په بين المللي سازشونوکي ملوث شي، اودداسي يوحکومت سره موافقه وکړي چي له بهرنه په افغان ولس باندي تحميل کيږي . دپاکستان موقف بايد اصولا داوي چي دنجيب حکومت په ځاي دي يوعبوري حکومت راشي، بيادي اوربند تأمين شي ،بيادي انتخابات وشي او ددي لاري نه چي چااکثريت ترلاسه کړ هغه دي راتلونکي حکومت جوړکړي . پاکستان دي دامريکاپه خاطر دغه کارنکوي چي له بهرنه پرافغان ولس باندي دپرديوخوښي حکومت تحميل شي .

پاکستان ته ترامريکانه افغانستان زيات مهم دي . زه هغوپاکستاني وروڼوته داهم وايم چي که پاکستان دامريکالپاره هرڅه وکړي نوامريکا به بي دخپلو ګټو لپاره قرباني کوي، امريکا به ترپاکستان نه هندته ترجيح ورکوي اولکه څنګه چي يي په ګذشته کي داسي کړي په راتلونکي کي به يي هم همدغسي کوي ! که په افغانستان کي دامريکا دخوښي حکومت راغلو نودپاکستان اوافغانستان ترمنځ به سابقه ترخي تجربي به يوځل بيا تکراريږي ! اوبيا به دافغانستان حکومتونه دپاکستان په خلاف استعماليږي ! زه پاکستاني وروڼوته وايم چي دببرك اودظاهرشاه دراوستلوترمنځ فرق څه دي ؟ هغه روسانوراوستلو دا امريکاراولي !

زه په صريحوالفاظو داخبرا علانوم چي زموږموقف به دظاهرشاه دحکومت په خلاف همغه وي چي دببرك اودنجيب په خلاف وو . هيڅاته به ددي موقع ورنکړو چي دخپلي خوښي حکومت پرافغان ولس باندي تحميل کړي . موږبه ددغوسازشونوپه خلاف په کلکه اوپه ميړانه و دريږو دانجام اوپاي نه يي هم ويره نلرو . موږ دالله جل شانه سره داتعهدکړي چي پايه داسلامي حکومت ترسيوري لاندي ژوند کوو اوپايه په د ي لارکي په شهادت رسيږو .

زمامختصر مقدماتي خبري همداوي، اميدوي چي که څه پوښتنه وي زه هغي ته ځواب وويلي شم .

پوښتنه : تاسووويل چي حزب دننه په پوځ کي هم اثرلري اواکثريت هم ورسره دي . داسي حالات نشي کيداي چي په نژدي راتلونکي کي په هغي باندي څه تبديلي راشي ؟

ځواب : څه چي حزب په ګذشته کي کړي نوپه راتلونکي کي هم دهغه دکولو اوديبا تکرار احتمال شته . که پرون حزب داتوان اوظرفيت درلود ، نن بي بايد په اولي درجه ولري . که زموږ په خلاف ددښمنانو له خوا او متأسفانه دځينو

**موږوايو چي لومړي بايددغيرمتنازع فيه شخصيتونوعبوري حکومت ته قدرت انتقال شي بيا اوربندوشي اوبيا دانتخاباتو له لاري دايمي حکومت جوړشي**

دوستانو حلقو له خوا سازشونه نه واي شوي نودنجيب حکومت به لاډير دمخه ختم وو، زه متأسفانه اوس هغه نشم توضيح کولاي . خو په خپل وخت کي چي کله په افغانستان کي دمجاهدينو حکومت جوړشي بيا به زه هغه نري ته واضح کوم چي زموږ په خلاف کوم پټ پټ سازشونه شوي وو . ددښمنانو خوځرګنددي ، حتي دځينو دوستانو، دابه په خپل وخت کي انشاء الله کوو .

سوال : انجنيرصاحب ! ګفتيدکه يك حکومتي بيايد که هيچ شخصيت متنازع فيه دران شرکت نداشته باشد وبعدازآن وعده هم کندکه درظرف چندماه انتخابات رادرافغانستان براه بياندازد. همينطورحکومت وجود داردکه درآن پنج شش تنظيم هم اشتراك دارند . اګراين حکومت به شمابګويدکه درين انتخابات نجيب هم شرکت نمايد آياشما اين پيشنهاد راقبول مي کنيد ؟

ځواب : دستاسو کوم حکومت مراددي ، دنجيب حکومت که کوم بل حکومت ؟! بل حکومت خوزه نګورم . که ستاسو مراد هغه سابقه منحل شوي حکومت وي، نوهغه خومنحل شوي، هغه ختم دي ، هغه دفن شوي اودهغه حکومت په نسبت زموږ ځيني شرايط ندي پوره شوي . موږ وايوچي په هغه کي رهبران غړيتوب ونلري . ځکه رهبران ټول متنازع فيه دي ، درهبرانونه دي پرته جوړشي . هغه حکومت موږ امتحان کړي ، هغه ناکامه شو او داترڅه تجربه نبايد چي بيرته تکرار کړو اوبل داچي له دي نه پس په داسي حکومت کي چي له ملك نه بهرجوړيږي ګډون نکوو اوکوم حکومت چي موږغواړو هغه بايد په کابل کي جوړشي اودنجيب دحکومت ځاي دي ونيسي . نه په پيښوركي ، پيښوركي تباردپاکستان يوحکومت شته هغه کفايت کوي .

پوښتنه : په سعودي عربستان کي کيدونکي کنفرانس ته دحزب دبللو او ګډون کولو په باب پوښتنه وشوه چي داسي ځواب ورکړ .

ځواب: له موږنه لاتراوسه رسماً پدي هکله غوښتنه نده شوي اوموږبه پدي باندي فکرکوو او وروسته به خپل تصميم اعلانوو . دحزب اسلامي اجرائيه شورابه ددغسي کنفرانس په ټولو جوانبو باندي غور کوي ،څوك به پدي کي ګډون کوي، اجندا څه ده ، حزب ته دګډون کولو امکان شته که نه ، له هغه نه وروسته به خپل موقف اعلانوو .

پوښتنه : آياکيداي شي دافغانستان کشاله دنويو سياسي نوښتونو له لاري دشپږو مياشتو په اوږدو کي حل وفصل شي ، ستاسو نظر پدي باب څه دي .

ځواب : زموږاميد دادي چي ترشپږومياشتونه هم په لنډه موده کي دافغانستان مسئله حل شي ، خوکه څوك ګومان کوي چي ددغو تلاشونوله لاري به دافغانستان مسئله حل کيږي کوم ته چي مامخکي اشاره وکړه نوهغوي اشتباه کوي .

پوښتنه : يقيني خبره ده چي پاکستان ، ايران ، سعودي عرب ، امريکا اوروس اودمجاهدينو ځيني پارټي پدي راضي دي چي ظاهرشاه راشي نوپداسي حالاتوکي به هغه څه ونشي کوم څه چي هغوي غواړي ، پداسي حال کي چي تاسوپخپل موقف کي تقريبا يواځي ياست ؟

ځواب : که زموږ نه پرته دامسئله حل کيداي شي نوولي انتظار کوي حل دي کړي ! که يواځي موږپاتي يو نو دامسئله بايد ډير دمخه حل شوي واي . موږ نه يواځي پخپل ولس کي يواځي نه يو ټول افغان ولس زموږسره دي بلکي په بهرکي هم ټول اسلامي امت په خپلي خواکي وينو ! حتي که ځيني حکومتونه زموږمخالفت هم وکړي زه باور لرم چي امت له موږسره دي . ترټولو نه زياته لويه خبره داده چي موږ دالله جل شانه په اتکاء، اعتماد اواتکال داجهاد پيل کړي الله جل شانه له موږسره دي موږيه حقه يواو پدي خاطر موږ مطمئن يوچي الله جل شانه به زموږ مرسته کوي .

زه تاسوته قسما وايم چي تراوسه ماله الله جل شانه نه پرته په بل اعتماد ندي کړي ، اوپه بل چامي حساب ندي کړي ، يواځيني اميدمي الله جل جلاله دي . دجهاد له پيل نه ترننه پوري اوزه له هغي ورځي نه ، ويريږم چي دالله جل شانه نه مي پرته په بل چا اعتمادوي اوبل چاته مي اميدوي . که موږوتوانيدلاي شوو چي روسانو ته ماتي ورکړو انشاء الله نوري توطئي به هم په آسانۍ سره دالله په مرسته شنډه وو .

پوښتنه : انجنيرصاحب ! په جرمني کي هم ديوکنفرانس دجوړيدو تياري روان دي چي په هغه کي به دافغانستان دستونزو دحل راپيدا کولو لاري چاري وڅيړل شي . ستاسو په نظر به دمسئلي په حل کي ددي څه مؤثريت وي که څنګه ؟ اوتاسويه پدي کي ګډون وکړي ؟

ځواب : زه ګومان نه کوم چي ددغو کنفرانسونو له لاري دافغانستان مسئله حل شي . خوموږته رسما څه دعوتنامه نده سپارل شوي اوتراوسه پوري موږهم خپل رسمي کوم موقف ندي څرګندکړي ، موږ به ډير ژرخپل موقف پدي هکله څرګندکړو . که موږ په هغه کي ګډون هم کوو نودي ته به ترجيح ورکوو چي بايد مجاهدينو ګډ هيأت ولاړشي ، دهغوي موقف يووي اوهلته يواځي دمجاهدينو دموقف دبيانولو لپاره ولاړشي نه دبل کوم مقصد لپاره .

پوښتنه : دنګنيف سيمتري معاهده دجنوري له لومړي نيټي څخه نافذه وه ، آياتاسو داسي کومه ذريعه لري چي دکابل حکومت ته دوسلو راتګ جاري دي اوکه دابند شوي اوآيا ددي په وجه

(۷) مخ

## معلومات طبي

داکتر نجيب الله «محبوب»

### سرفه

سرفه يکي ازمعـ.لترين علايم تکاليف سيستم تنفسي بوده وعبارتست ازشدت خارج کردن هوا ازطرق تنفسي يکه به مقصد تصفيه طرق تنفسي از افرازات يااجسام ، نبي بوجود ميايد سرفه ممکن است طور ارادي ياغيرارادي بوجود بيا. وبراي بوجود آوردن يکتعداد عکس العمل هاي مختلفه عصبي فعاليت ، کند سرفه داراي سه مرحله ذيل است .

۱- شهيق عميق باداخل کردن به قوت هوابه شش .

۲- براي يك لحظه مختصر تنفس توقف ميکند که علت آن مسدود شدن طرق تنفسي است .

۳- حجاب حاجزوعضلات سينه بطورعکس العمل مقابل بسته شدن طرق تنفسي بشدت حرکت کرده ودراثر آن هواباقوت خارج وهمراه با آن بعضا" افرازات تنفسي نيز اطراح مي شود . سرفه شايد ازاثرعکس العمل ها التهابي ، کيمياوي ميخانيکي وحرارتي بوجود بيايد، عکس العمل التهابي شايد ازاثرالتهاب طرق تنفسي مثلا درريزش وزکام يادرالتهاب نسج شش مثلا درنومونيا ياسينه وبغل سبب توليد سرفه گردد .

عکس العمل هاي ميخانيکي ازاثرتحت فشار قرارگرفتن طرق تنفسي توسط عوامل مختلفه مثلا پارچه هاي غذائي ، گردوغبار وتومورهاي مختلفه درطرق تنفسي بوجود ميايد .

عکس العمل هاي کيمياوي ازاثرانشاق گازات مخرش مثلا دودسگرت وساير مواد کيمياوي مخرش سبب تنبيه سرفه مي شود .

عکس العمل هاي حرارتي ازاثرتنفس نمودن هواي بسيارگرم يابسيارسرد سبب توليد سرفه مي گردد .

سرفه امکان دارد خشك (بدون بلغم ) يابلغم دارباشد .

سرفه خشك بيشتر ازاثر تنبيه قسمت هاي بالائي طرق تنفسي يعني حلق، حنجره وبيني بوجود آمده وعلت آن شايد اجسام اجنبي درنواحي مذکور ياتخريش اين نواحي از اثرالتهاب باشد .

سرفه بلغم دار به معني التهاب شزن وقصبات ( برانشيت ) باالتهاب نسج شش است که اسباب آن مختلف بوده وغرض ازبين بردن آن بايد معاينات و تداوي مناسب تحت نظر داکتر اجراگردد .

تداوي سرفه :

قسميکه فوقاً تشريح شد سرفه علامه يکتعداد زياد امراض بوده وبه خودي خود کدام مرض مستقل نيست از اينروتداوي آن نيز مربوط اصل مرض است بايد کوشش شود تااصل مرض که سبب توليد سرفه شده تشخيص وتداوي مناسب عليه آن نيز اجراگردد بنابرآن تطبيق خود سرانه ادويه ضد سرفه لزومي نداشته وبايد از آن اجتناب گردد .

سرفه يك ميخانيکيت دفاعي وجود نيز بوده ومي تواند سبب تصفيه طرق تنفسي ازافرازات يااجسام اجنبي گردد اماسبب انتقال بسياري امراض هم ميگردد مثلا توبرکلوزشش ، ريزش ، زکام وغيره . بنابرآن اشخاص مصاب سرفه کوشش نمايندکه درداخل سرويس هاي شهري ، مساجد، صنف هاي درسي ومجالس از بروزحمله سرفه تاحدتوان جلوگيري نمايند ودر صورتيکه خواهي نخواهي سرفه ميکنند بايد دهن خودرا بادستمال ياماسك بپوشانند تاازسرايت کردن عامل مرض جلوگيري گردد .

# دپاکستان له مومن ولس نه . . .

پرتاسو څه فشار راځي که نه ؟
ځواب : دهوا له لاري نه دکابل رژیم له دروسیي نه دوسائلو اومهماتو راتګ دلیري میاشتي له شپاړلسمي نیټي نه رایدیخوا متوقف شوي امادځمکي له لاري ددي لړي جاري ده . آیلي ورځي پوري چې موږکوم معلومات درلودلو نوداسلسله جاري سائل شویده .
پوښتنه : انجنیرصاحب ! کابل حکومت له دوسلو درالیږلو مشکل څرنګه چې تاسو وویل پخپل حال جاري دي ، خوددي په څنګ کي دکابل ښاوخوا سیمونه دخوراکي موادو کابل ته دلیږلو سلسله هم لاتده بنده شوي اوځیني قوماندانان ټیکس په اخیستلو سره دامواد کابل ته پریږدي اویقیني خبره ده چې دامواد ددي حکومت دعمرپه اوږدیدوکي مؤثر رول لري آیاتاسو ددي موادو دبندولو لپاره کوم پروګرام ترلاس لاندي لري ؟
ځواب : ترزیات حدپوري پدي کي پرمختګ شوي اودکابل محاصره تشدید شوي اواکثر لاري بندي شوي ترڅوله اطرافونه غذایي مواد هغوښاروتوته رانه شي چې دکابل دررژیم ترتسلط لاندي دي . خو دقاچاق مخنیوي څه آسان کار ندي اوحتي په هغو ملکونوکي چې هلته وسیع پولیس اوپوځ لري هلته هم دقاچاق سلسله جاري ده . دافغانستان غوندي حالاتوکي خوددي کاملا مخنیوي ګران دي، ولي ترډیره حده پوري په دي کي پرمختګ شوي . دااوس که تاسو له ماسره لوګرته ولاړشي نوتاسویه په خپلو سترګو ووینې چې ددي لاري نه تګ راتګ کاملا بند دي .
پوښتنه : که ظاهرشاه راشي اودادیرش لکه کم زیات مهاجرین چې په پاکستان کي میشته دي ټول بانیم ددي خلاف شي نوآیاله دي نه به په پاکستانیانو کي څه

ګډوډي یاجنګ جګړه رامنځ ته نشي ؟
ځواب : په مهاجرینوکي ډیرمحدود کسان داسي شته چې هغه دي دظاهرشاه دراتلوطرفداروي خوددي احتمال چې که ظاهرشاه دبهرنیو سازشونو په نتیجه کي پرافغانستان تحمیل شي نودلته په پاکستان کي بهم له دي نه مشکلات رامنځ ته شي ، شاید پاکستان دي ته مجبورشي چې دظاهرشاه دطرفدارانو دمحافظت ( سکیورټي ) له پاره خاصي انتظامات ونیسي .
پوښتنه : دماسکو له خبرواترو راهیسي دماسکو ددریځ اودایران دموقف په باره کي پوښتنه وشوه .
ځواب : ماسکو دمجاهدینو سره په خبرو اتروکي له مجاهدینو سره مخلص نه بریښي . دهغوي زیاتره ترکیز دخپلو اسراوو دخوشي کولو په باره کي دي اوداچي دافغانستان دمسئلي دحل لپاره دبنیادي لاري پلټنه وشي پدي هکله هغوي زیات اهتمام نلري . پدي خاطر موږ څه خاصه توقع له دي مذاکراتو نه نلرو اوپه همدي خاطرهم موږدماسکو په مذاکراتو کي شرکت ونکړ . دایران په هکله باید دومره ووایم چې موږ دایران دحکومت له خوادافغان مسئلي په باب پالیسي باندي زیات ملاحظات لرو اوحتي دغه څه چې اوس دکومکونو ترنامه لاندي هم کوي، پدي هکله هم زیات قانع نه یو ! نه یې له انګیزي نه اونه یې هم له ترتیب نه .
یوپاکستاني خبریال دروسي هیأت دمشرروتسکوي سفر ته چې پاکستان ته یې وکړ اودمجاهدینو سره یې هم لیدني وکړي اوهمداراز پدي باب چې دروسي اسیرپه ځاي یوافغاني اسیرهغوي ته حواله شوي دي یوه پوښتنه وکړه چې مجاهد وروړ حکمتیار په ځواب کي داسي وویل :

زه به په هغه صورت کي ډیر خفه وم چې هغه ولا لاس ییرته ګرځیدلاي واي ، خوښه شو چې هغه خالي لاس بیرته ولاړ . جنګي اسراء به هلته خوشي کیږي چې زموږدجنګي اسراوو سرنوشت معلوم شي، دڅلویښت زرو لادرکوکسانو سرنوشت معلوم شي اودافغانستان مسئله حل شي، دروسي پوځونو په لاس مسلط شوي حکومت ختم شي ، نوبیا روسي وسلو افغانان په قتل ونه رسیږي .
دپاکستان ځینوحلقو ددي سره ډیره زیاته دلچسپي درلوده چې خامخادي ځیني جنګي اسراء خوشي شي . کوم مصلحت چې ددوي مدنظروو موږیه هغه باندي قانع نه شوو .
پوښتنه : دروسي اسیرپرځاي یوافغاني ورکول دا عجیبه خبره نده ؟ پداسي حال کي چې له یوي خواویل کیږي چې روسانو زموږپه ملک تیري کړي و ، اوموږ روسي اسراء لرو خوهیأت ته دروسي پرځاي افغاني ورکول کیږي . تاسو په دي باب څه ویل غواړي ؟
ځواب : له موږسره چې کوم روسي وو هغه هم تلوته تیارنه وو . هغه وویل چې ترڅو دافغان ولس مسئله نه وي حل شوي ، ټول افغانان نوي خوشي شوي زه نه ځم ، بهتره داده چې داتپوس له هغه چانه وکړي چې افغانان روسانوته حواله کوي !!
مجاهد وروړحکمتیار دیوي بلي پوښتني په ځواب کي داسي وویل : زه به دانه وایم چې شاید داخبره برعکس وي اوموږپه داجنګي اسراء ددي لپاره نه وي خوشي کړي چې دلته دظاهرشاه دراتلولپاره هڅي کیږي . دظاهرشاه دراتلولپاره داکوښښونه ډیر دمخه پیل شوي وو . دجنګي اسراوو دساتلو نه

زموږ یومقصد دادي چې داپرروسانویاندي دکشالي دژرحل لپاره دفشارراوستلو یوه وسیله شي اوزموږ تشویش دادي چې نورغواړي دغه فشار له منځه یوسي اودحل نه مخکي جنګي اسراء خوشي کړو .
او دمجاهدینو په لاس کي دروسانو پرضد دفشاریواځیني وسیله همدا داسراء و ساتل دي ، شاید ځینو حلقو سره دادلچسپي وي چې باید دافشار نه وي اوهسي خوداخبره هغوکسانو ته اصلا متوجه ده چې دروسي اسراء وودخوشي کیدلو موافقه یې کړي وه . موږ نه په مذاکراتو کي برخه درلوده اونه له دي سره موافق یو ، حتي هیأت ته موویلي چې داسراء و په هکله نباید خبري وشي اونه څه موافقه وشي . هغوي تعهد کړي و او هغوي باید خوشي کړي واي . مطالبه هم باید له هغوي نه شوي واي . نه له هغوکسانو نه چې نه یې تعهد کړي و . اونه دخوشي کولو سره موافق و .

## انجنیراحمدشاه دالبنیان ...

وویل : چې دنوموري څوا پوهاند سیاف ته رسمي بلنه لیبک رارسیدلي دي خوهغه به پکي ګډون ونکړي ځکه له یوي خوا داکنفرانس دامریکا په مشوره جوړیږي اوله بلي خوایه هغه کي به دکابل درژیم نماینده ګان هم برخه ولري، اوزموږ تنظیم اوس هم پخپل پخواني دریځ باندي ولاړدي چې دکابل دررژیم سره به په هیڅ دول مستقیمواوغیرمستقیموخبرواتروکي برخه وانخلي .

# تغییرمواضع وشتاب . . .

ونتیجه این همه تلاش وقبول زحمات بصفرضرب خواهد خورد، زیرا ثمره آنرادیگران خواهند برد.

دوم اینکه امروز مجاهدین به تجارب ارزنده یي دست یافته اندبااینکه مشکلات درمیان شان زیاد است ومعلوم است که علت بساري ازمشکلات ازبیرون ناشي میشود، تازمانیکه مادراین حالت خاصي قرارداشته باشیم ومنافع دیگران دربطن قضیهٔ وجودداشته باشد وآنهابراي حفظ منافع خود ابزارقوي فشار در اختیارداشته باشند، موجودیت این مشکلات امري حتمي است اما درپهلوي این ، هنوز امکانات معنوي ومادي فراوان را مادراختیارداریم که اگر ازآن بدرستي استفاده صورت . گیرد وبه واقعیات عیني جاري برخورد صادقانه شود یقینا ازهرسازش ومعامله بخوبي میتوان ممانعت بعمل آورد . همان طوریکه جهاد راه نجات وراه پیروزي ثابت گردید اکنون نیز این امکان بزرگ ودرست است . وآنهانیز به ساده گي نخواهند توانست همه چیز را نادیده بگیرند وازروي تمام موانع به ساده گي عبورنمایند . نه خیر این کارمشکلي است وبراي آنهانیز آسان نخواهد بود . پس کلید حل قضیه هنوزدرمیان ما ودردست ماست . اگر بتوانیم ازاین کلید براي بازنمودن درهاي بسته شده استفاده نمائیم یقینا پیروزي ازآن ماست ودرآنصورت طوریکه ارتش سرخ نتوانست خودرا برملت ماتحمیل نماید .امریکا وروس ودیگران نیز نخواهند توانست نوکران شانرا برماتحمیل نمایند .
اگرملت مایکپارچه ویك دست دربرابر توطئه طوریکه درگذشته ایستاده گي کرده است قرارگیرد چه کسي میتواند چیزي را ویاکسي را برآن تحمیل نماید ، مابایدراه خودرا ادامه دهیم ، درمسیرواه این رویداد ها وپیش آمده ها مایه تعجب مانیست زیرا هرکشوري منافع خودرا ازدیگران بیشتر دوست دارد . هرچند آمدن ظاهرشاه ورژیم دست نشانده به نفع کشور هاي همسایه مسلمان ما نیست . اگرامروز آنهابه این سازش رضایت نشان دهند وملت ما آنراپذیرد . گاهي هم عملي نخواهد گردید .

## فرانسه له چاد نه خپل ځواکونه وباسي

دچادرسمي رادیو وویل چې حکومتي عسکرو په غربي چادکښ دوه ښارګوټي بیرته نیولي اویاغیان ئې له هغه ځایه څخه په زور ایستلي دي .
دیاغیانو دیوه نطاق په حواله ویل شوي چې یاغي قواوي چې برطرف شوي جمهوررئیس حسین هبري ته وفاداري دي اوس په یول اولیوابانډي مسلطي دي .
دیویل خبرله مخي فرانسي اعلان کړي چې دوي خپل هوایي اوځمکني پوځ له چادڅخه وباسي دفرانسي یوه رسمي ویاند ویلي چې اوس دچاد قواوي په چارومسلطي دي اودفرانسي پوځ ته ضرورت نه لري .

## بقیه سرمقاله

نخواهد بود .
ظاهرشاه دردوران چهل ساله سلطنت خود، هیچگاه یك همسایه خوب براي پاکستان نبودودرطول آن مدت به اپاولشاره روس وهند باپاکستان به دشمني پرداخت و یك قسمت خاك پاکستان رابنام " پشتونستان " یك کشور آزادوجدا ازپاکستان تلقي مي کرد و سران عشایر این منطقه راتحریك میکردتا بابلندکردن بیرق آزادي خواهي از پاکستان جدا شوند . حالانیدانیم که چه چیزي باعث شده که مقامات پاکستاني باره یگرحاضرشده اندکه چنین عنصر فرتوتي را براي زعامت آینده افغانستان درنظرگرفته اند؟ اینکارنه تنها خلاف آرمان مجاهدین است ،بلکه مصالح کشور پاکستان نیز باچنین سیاستي سازگارنیست ومطمئنا که ملت پاکستان بااین معامله گري مخالفت خواهندکرد .
عده اي را عقیده برآنست که درجریان سفر روتسکوي معاون رئیس جمهورروسیه به اسلام آباد بعضي مقامات پاکستاني سعي داشتند تاباتسلیمي اسراي روسي به او، خاطرزمامداران روسي را خوش نگهدارند ، مگربه نسبت عدم موافقه اسرا دورفتن به روسیه ، تیر پاکستان بهدف اصابت نکرد ودرنتیجه آنها ازرهبران مجاهدین دل آزرده گردیدند . اگر تغیرپالیسي ازین نکته ناشي شده باشد، بازهم چندان مرجح نیست ، زیرا هنوز دراتحادیه مشترك المنافع روسیه ثبات سیاسي وجودندارد وهیچکس پیش بیني نمیتواندکه آیا یلتسین بعنوان قهرمان تحولات اخیر، نفوذ خودرا برجمهوري هاي تازه به استقلال رسیده شوروي سابق حفظ مي تواند یاخیر ؟
بعضي ها معتقدانند که پاکستان تلاش دارد تابهرترتیبي که مي شود، توجه جمهوري هاي مسلمان آسیاي میانه را بخود جلب نماید و برسبیل رقابت باکشورهاي منطقه خصوصا ایران ، مناسبات همیقي باآنکشور هابرقرارکند . چون پاکستان مرززمیني مشترك باآنهاندارد، سعي دارد تا ازطریق افغانستان به این هدف خود نایل گردد . اینکار براي پاکستان ممکن نیست تاآنکه قضیهٔ افغانستان حل گردد . چون موعد حل قضیهٔ افغانستان ازراه جنگ هنوزمعلوم نیست ، پاکستان عجله دارد تاباتن دادن به راههاي دیگر ، قضیه رایکطرفه کند؛یا هرروزیي که درافغانستان بقدرت میرسد، رابطه خودرا محکم نموده ، ازآنطریق راه" ترکستان را درپیش گیرد !
محتمل به نظرمیرسدکه حکومت پاکستان باچنین ستراتیژي اي حاضر به قبول انعطاف درپالیسي هاي سابقه اش شده است ، مگر یك نکته را برادران انصاریاید بخاطر داشته باشند که حکومت هاي تحمیلي که ازراه سازش ها ومرامرات بین المللي درافغانستان وارد مي شوند، سرنوشت شان مانند حکومت هاي تحمیلي ووارداتي کمونیستي فعلي است . بااین قرار نه تنها پاکستان راهي به آسیاي میانه نمي یابد، بلکه مؤدت ودوستي معنوي خودرا باملت افغانستان ومجاهدین خفته درسنگرها نیز ازدست خواهد داد. اینکه حکومت پاکستان ازجانب غرب وهند تحت فشارانست ، علتش درداشتن عقاید اسلامي ملت پاکستان است نه درموضعگیري هاي سیاسي مقامات اینکشور. داشتن عقیده اسلامي چیزیست که نه ملت افغانستان حاضر به تغیر وانعطاف ازآنست ونه هم ملت پاکستان بچنین ننگي تن میدهند . دشمني هاي جاري نیروهاي استکباري اعم ازامریکا وهند وروس و بریتانیا همه وهمه ناشي ازاختلاف عقیدوي مسلمانان باآنهاست . سعي دشمنان آنست که اسلام بعنوان یکقدرت جهاني درعرصه گیتي عرض اندام نکند . زیرا مطرح شدن کشورهاي اسلامي بعنوان یکقدرت بزرگ سیاسي ونظامي، طومار همه قدرت هاي طاغوتي را درهم مي پیچد، لهذا تلاش ها گاهي درلباس دوستي وگاهي هم تحت پوشش دشمني جریان دارد تااسلام ومسلمین را خورد وخمیر نمایند . جلو گیري ازتشکیل حکومت اسلامي بدست مجاهدین درافغانستان ودرعوض روي صحنه کشیدن چهره هاي خبیثي چون ظاهرشاه جزو همین نقشه استعماري است . اگرحکومت پاکستان به مصالح اسلام ومنافع ملت خود علاقمند باشد ، تغیرپالیسي مشکلاتي زیادي رابراي آنها به ارمغان خواهد آورد واگرتغیر پالیسي آنهامبتني برتغیر عقیده آنهاباشد، درآنصورت مسأله بادیدبگري محاسبه خواهدشد .

# دحزب اسلامي افغانستان دگرمسیروسیمو لیسو اودیني مدرسو څلورنیم میاشتني آزموینه پیل شوه

دمرغومي ۱۵ :
دروان کال دمرغومي دمیاشتي په ۱۵ مه نیټه دحزب اسلامي افغانستان مربوطو اکثرولیسوو ، متوسطو اودیني مدرسو چې په ګرمسیرکي موقعیت لري څلورنیم میاشتني آزموینه پیل شوه .
دوویم نمبر ورسك څخه دشهادت خبریال لیکي چې دمرغومي دمیاشتي په ۱۵ مه نیټه دافغان سیدجمال الدین دلیسي دلیلیي بخش په انګرکي یوه درنده غونډه وشوه . غونډه کي چې په سل ګونو استادانو اوزده کونکو برخه درلوده دقرآن عظیم الشان دځومبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه .
دغونډي په سرکي دلیلیي مدیر اوسرمعلم ارزښناکي خبري وکړي اودآزموینې دپرامنه فضادرامینځ ته کیدو غوښتنه یې کړه .
غونډه دمولوي صاحب عبدالحنان په اختتامیه دعاسره پاي ته ورسیده له دعاوروسته دنوموري لیسي تقریبا دوولسو سوه زده کونکي چې له ۷ څخه تر ۱۲ مو ټولګیو په منظمودلو وویشل شول اودلیسي په انګرکي ئې بوززه بښونکي فضا جوړه اوآزموینه پیل شوه .
همداراز دشهادت خبریال دافغان سیدجمال الدین دلیسي دنهاري بخش نه په یوه رپوټ کي لیکي، دافغان سیدجمال الدین دلیسي په نهاري بخش کي دري زره اوپنځه سوه شاګردان زده کړه کوي او۸۷ صنفونو ویشل شوي ، پدي لیسه کي ۱.۸ کسه استادان تدریس کوي

لري او ۲۸ استادان پکي تدریس کوي
زموږ خبریال دنوموري مدرسي دمسئول مدیر مولوي صاحب محمد شریف له خولي لیکي چي دي مدرسي تراوسه

فارغان ندي ورکړي ځکه چي ددي مدرسي دزده کړي سویه نسبت نورومدرسو ته لوړه ده په راتلونکي کال کي به انشاء الله دامدرسه دافغانستان دمظلوم ملت په وړاندي دخدمت لپاره لومړي دوره فارغان وړاندي کړي .
ددي مدرسي څلورنیم میاشتني آزموینې هم دنورو په شان دمرغومي له ۱۵ مي څخه پیل اوتر ۳ مي پوري دوام لري .
زموږخبریال دصوابي دکیمپ دثانوي مدرسي جامعة السلامیه څخه لیکي چي ددي مدرسي څلورنیم میاشتني آزموینه هم دمرغومي په ۱۵ نیټه دمدرسي په انګرکي له یوي غونډي وروسته پیل شوه .
دغونډي په پیل کي دنوموري جامعي مدیر عالمانه وینااوکړه دنوموري جامعي مدیر دشهادت خبریال دیوي پوښتني په ځواب کي وویل سږ کال د ٤٢٦ زده کونکو څخه ۳۸۸ زده کونکي په آزموینه کي برخه لري اوآزموینه دسهارله ۹ بجو څخه دغرمي تر ۱۲ بجوپوري دوام لري اوزموږ دآزموینې وروستي نیټه دمرغومي دمیاشتي ۳۰ مه ټاکل شوي چي پس له هغي به زده کونکو ته یوه هفته رخصتي ورکول کیږي .
دشهادت یویل خبریال دنصرت میني څخه خبراکوي چي دلته دقیس بن سعد دعالي لیسي څلورمیاشتني آزموینه هم پیل شوي ، په دي لیسه کي تردوو زروزیات زدوکوونکي زده کړه کوي او له لومړي ټولګي څخه تر ۱۲ پوري شاګردان روزي .
دیوه بل خبر له مخي د جلوزو په کیمپ کي دملابابا ( رح ) دمنګني سونځي څلورمیاشتني آزموینه هم ددیوي غونډي په ترڅ کي پیل شوه دغونډي

په ۱۲ بجوپای ته رسیږي .
خبریال لیکلي چي دافغانستان دمنحل شوي عبوري حکومت مربوط ښوونځیو څلور میاشتني آزموینې نه لري .
زموږ خبریال دامام اعظم (رح) دشرعي عالي مدرسي دڅلورنیم میاشتني آزموینې په باب لیکي نوموري مدرسه ۲۱٦۳ طالبان لري . نوموري مدرسه په دوویخشونو ویشل شوي دڅلورم ټولګي څخه تر ٦ ټولګي پوري زده کونکي په نهاري بخش کي زده کړه کوي اوداووم ټولګي څخه تردوولسم ټولګي پوري زده کوونکي په لیلیه کي زده کړه ترسره کوي . دلیلیه زده کونکو شمیر ۳۸ ... او (٦۳) کسه استادان پکي — تدریس کوي دهوئ آزموینه دمرغومي له ۱۵ څخه پیل شوي دآزموینې ورسته نیټه دمرغومي ۳ مه

ټاکل شوي ده .
دشهادت خبریال دعبدالله ابن عباس (رض) دمدرسي دآزموینې په باب لیکي دامدرسه دپښور دګلبهار په شیخ آباد کي موقعیت لري په ۱۳٦۳ کال کي تاسیس شوي ده . په دي مدرسه کي ٥٤ کسه طالبان زده کړه کوي کوم طالبانو ته جملي څخه ۷۰ کسه نهاري اونور لیلیه دي نوموري مدرسه شپاړس ټولګي

دنوموري لیسي څلورنیم میاشتني آزموینه دمرغومي په ۱۵ مه نیټه پیل شوه اودا آزموینه به ۱۵ ورځي دوام ولري دلیسي پدي بخش کي زده کونکي له ۷ ټولګي څخه تردوولسم ټولګي پوري په زده کړه بوخت دي دنوموري لیسي دولسم ٤ ټولګي یوولسم ټولګي (٥) ټولګي لسم ... نهم (۱٦) ټولګي اتم ۲۰ ټولګي اووم ۱٤ ټولګي لري آزموینه دسهار له ۹ بجو څخه شروع اودغرمي

برخوالو ته دمتحني سونځي آمر ، وکړي اوزده کونکي یې خپل مسؤلیتونو
سرښونکي او مولوي واسع الدین خیري ته متوجه کړل.

## بقیه سخن روز

وبالخصوص ملل مسلمان آسیاي میانه مبارزات آزادیخواهانه شان را نه تنها آغاز بلکه تشدید مي بخشید ند وبالاخره روسیه به سرنوشتي مواجه مي شد که اکنون مواجه شد.
ولي خداوند خیرالماکرین تمام مکرها ي دشمنان داخلي وخارجي مارا که براي جلوګیري از تاسیس یك حکومت اسلامي بدست فرزندان مؤمن واصیل این کشور ، بکاربستند عقیم ساخت حتي که تجاوز لشکر سرخ برافغانستان که نشانه ترس ووارخطایي روسها بود نیز جلو پیشروي انقلاب اسلامي درافغانستان واګرفته نتوانست وبالاخره روسها باسرنوشتي مواجه شدند که ازآن هراسي داشتند وبخاطر مواجه نشدن با این روزیك ونیم ملیون ازفرزندان مؤمن کشورما رابخاك وخون غلتاندند و بیش ازیك دهه درکشور ما وحشت وجنایت کردند.
تشویش روسها هنوز هم ازین ناحیه رفع نشده است . روسها مي ترسند که درصورت قیام یك نظام اسلامي درافغانستان کشور هاي اسلامي آسیاي میانه بسوي نظامهاي اسلامي باسرعت حرکت خواهند کردو فدراسیون روسیه بین یك حصار مستحکم اسلامي محصور خواهد ماند. که به این ترتیب فدراسیون روسیه نیز ازهم پاشیده خواهد شد چنانچه الکساندر روتسکوي معاون ریاست جمهوري فدراسیون روسیه درهمین روزها طي یك مصاحبه درمورد اعتراف کرده وبه صراحت گفته است که بالاخره فدراسیون روسیه نیز تجزیه شدني است . این یك امرمسلم است که چرخشها وتغییرات سیاسي درمنطقه و حتي تغییرات سیاسي اروپاي شرقي که این همه تغییرات مرهون سنت جهاد نجات بخش ورهایي بخش ملت مؤمن افغانستان است ، بالاي ملل محکوم فدراسیون روسیه نیز اثرکردني است.
وهمچنان احساسات اسلامي دردل مسلمانان آسیا رازنده خواهد ساخت . تا بسوي نظامهاي اسلامي گامهاي سریعي بردارند.
حال نه تنها روسها ازتاسیس حکومت اسلامي درافغانستان هراس دارندبلکي این بارهراس امریکا نیز باآن توأم شده است واین هردوکشور مي کوشند زعامت سیاسي افغانستان بدست کسي افتد که مصالح ومفاد هاي این هردو را رعایت کرده بتواند روسها وامریکا ییها بالاخره به این نتیجه رسیدند که براي این کارشخصي بهتري از ظاهرشاه نیست زیرا اوکسي است که درین راه تجربه چهل ساله دارد ، امتحان داده است وبپروزیدرآمده است .

اکنون بیشتر از همه امریکا با استفاده ازموقعیت سیاسي خود حتي بالاي کشور هاي همسایه افغانستان وکشورهاي که تا حال جهاد افغانستان راتائید کرده اند فشارمي آورد تابالاي مجاهدین فشار آرند به قبول ظاهرشاه تن دردهند ولي محال است ملتي که بخاطر نظام اسلامي یك ونیم ملیون شهید داده است چنین ذلت وتوهین رابپذیرد.
زیراظاهر شاه مرتکب خطا هاي آتي در افغانستان شده است .
# احزاب غیراسلامي رابخاطر مقابله بااسلام درافغانستان اساس گذاشت .
# فلم بي خدایي در زمانش در ادیتوریم پولي تخنیك به نمایش گذاشته شد.

# فلم یوسف زلیخا درزمان اقتدار اش درسینما هانشان داده شد وشخصیت حضرت یوسف (ع) را العیاذ بالله توهین کرد.

# کاریکاتورومردنوزنه به عنوان توهین بمقام رسالت مآب حضرت محمد صلي الله علیه وسلم العیاذ بالله درزمان اودر روزنامه «اصلاح» ارګان نشراتي دولت بچاپ رسید.
# بي حجابي زنان مسلمان درزمان اوجبراً بالاي مردم تحمیل شد وتعداد کثیري ازمردم مسلمان کندهار راکه علیه این حرکت غیراسلامي حکومت قیام کرده بودند بشهادت رساند.
# فرهنگ غربي را درکشورمارایج ساخت .
# علماي راکه به عنوان اعتراض برحرکات غیراسلامي حکومت درکابل گرد آمده بودند سرزنش کرد، وصدها نوع اعمال دیگر مشابه بااین .
پس حالا خوانندگان قضاوت کنند که ظاهرچگونه شخصیتي است وبرگزیدن او به زعامت سیاسي آینده افغانستان توهین به ملت افغان وخیانت به دین اسلام است.

## دچین جمهوررئیس سنګاپورته ځي

دچین جمهوررئیس سینا سنګاپورته رسیږي ترڅو دتجارت اوپانګي اچوني په باب دهغو هیواد له مقاماتو سره خبري وکړي .
جمهوررئیس یانګ به دسنګاپورجمهوررئیس صدراعظم اولومړي وزیرسره وګوري .
سنګاپور د ۱۹۹۰ کال راهیسي دچین سره رسمي اړیکي ټینګي کړيدي

## نبوي ارشاد

له حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل : هغه څوك چي خپل غلام (دكورخدمتگار) په دنياكي يوه څپيړه هم په ناحقه ووهي ، نودقيامت په ورځ به دهغه بدله تري اخيستله كيږي .

ترغيب اوترهيب دبزاراوطبراني په حواله

# اخبارجهان

### جاپان ازتصميمات كورياي جنوبي استقبال كرد

توكيو ۱۳۷۰/۱۰/۱۷

جاپان تصميم كورياي جنوبي رامبني برفسخ مانورمشترك نظامي با ايالات متحده ووعده كورياي شمالي را براي امضاي موافقه يي درمورد مصئونيت تاسيسات ذروي استقبال كرده است.

يك نطاق حكومت جاپان درتوكيوگفت : اين انكشافات درجزيره نماي كوريا يك قدم بزرگ درراه كاهش تشنج درشمال شرق آسيا ميباشد" . موافقه مجوزه كورياي شمالي تاسيسات ذروي آنكشور را بروي مفتشين بين المللي بازخواهد كرد.

### نكسن دپخواني شوروي له جمهوريتونوسره دمرستي غږكړيدي

دمتحده اياالاتو پخواني جمهوررئيس ريچاردنكسن وايي چي پكارده چي دپخواني شوروي اتحاد له خپلواكوجمهوريتونوسره په مالي مرستوكي تلواروشي.

نكسن په هغه مضمون كي چي دټايم په مجله كي چاپ شوي وايي دخواشيني خبره ده چي غرب لاتراوسه دپخواني شوروي له جمهوريتونوسره دمرستي يوجامع پروگرام نلري.

نكسن وايي چي جاپان اوغربي اروپا بايد پدي مرسته كي ونده واخلي اومتحده ايالات بايد ددي مرستو په تنظيمولوكي لارښوونه وكړي.

### چين سه عضو پارلمان كانادا را ازپيكنگ خارج ساخت .

پيكنگ ۱۳۷۰/۱۰/۱۷

چين سه عضو پارلمان كانادا را كه بمنظور مطالبه مسايل حقوق بشري وارد پيكنگ شده بودند اخراج نموده است.

پوليس چين اين سه كانادايي رادريك طياره مسافربرنشاندند كه عازم هانگ كانگ بود . اعضاي پارلمان كانادا درنظر داشتند برميدان تيانامنگ كه درسال ۱۹۸۹ عساكر اردوي چين درآن برمظاهره كنندگان طرفدار ديموكراسي حمله كردند اكليل گل بگذارند.

حكومت كانادا به عاليترين سويه برچين احتجاج نموده است چين ميگويد : نمايندگان پارلمان كانادا كه روزشنبه وارد چين شدند به فعاليت هاي دست بردند كه بموقعيت شان مطابقت نداشت .

### دگورجستان جمهور رئيس په ارمستانكي پناه واخسته

تفليس دمرغومي ۱۶ نېټه

جمهور رئيس گامساخورديا اودهغه دوه سوه همكاران چي د درواونيو راپه دي خوا په تفليس كي دمخالفو ځواكونو تر حملي لاندي وودپارلمان له وداني نه وتلي دي.

داسي ښكاري چي گامساخورديا اودهغه ملگري دآذربايجان له لاري دارمنستان جمهوريت ته تېښتېدلي اوسياسي پناه غوښتنه يي كړيده ويل كيږي چي دتېري شپي دراكټونو اوتوپونو دحملو له كبله هغوي دپارلمان وداني خوشي كړي وي.

دبېول خبر له مخي تېره ورځ په تبليسي دگامساخورديا ۴۰۰۰ پلويانو لويه مظاهره وكړه ولي دنوي نظامي حكومت دحامیانو له خوا پري ډزي وشوي اودوه تنه زخميان شول .

### دوهليكوپترناظرين جامعه اروپا توسط يك طياره نيروي هوايي ارتش فدرال يوگوسلاوياسقوط داده شد.

بلگراد ۱۳۷۰/۱۰/۱۷

وزارت داخله كرواسي اعلام كرده است كه يك طياره نيروي هوايي ارتش فدرال يوگوسلاويا به دوهليكوپترحامل ناظرين صلح جامعه اروپا حمله كرده است . دراين اعلاميه آمده است كه يكي ازاين هليكوپترهادراثرحمله سقوط كرد وتمام سرنشينان آن كه ناظرين صلح جامعه اروپا بودند كشته شده اند.

بنابه گزارش هليكوپترمذكورقبل ازرسيدن بزمين منفجرشد.

هليكوپتر ديگرنيز صدمه ديد واحتمالاً فرود آمد . گفته شده است كه سرنشينان اين هليكوپتر نيز مجروح شده اند.

### په چين كي څلوركسه اختطاف كوونكي اعدام شول.

دچين يوي رسمي ورځپاڼي ويلي دي هغه څلورتنه چي (۶۰) ښځي يي اختطاف كړي وي اوبيا يي دوينځو په څېرخرڅي كړي وي دچين دواكمو په امر اعدام شوي دي داورځپاڼه وايي چي دااعدام په چين كي دهاربين په ښاركي دنومبر په ۲۷ مه نېټه ترسره شو دوه تنه چي پدي تجارت كي يي لاس درلودېيوه ښځه اودهغي مېړه و په ۱۲ كسانو نورو په دي موضوع كي دلاس درلودلو له امله دبند جزا گاني منلي دي .

### رئيس جمهور امريكا درجاپان چهار روزباقي ميماند

توكيو ۱۳۷۰/۱۰/۱۷

رئيس جمهورامريكا ازاشتراك در مراسم افتتاح يك مغازه سامان بازي امريكا يي درجاپان استفاده كرده ازحكومت توكيوخواست تاموانع اقتصادي راازسرراه تجارت بين دوكشوربردارد .

بوش باحضورخود درمغازه تايزاوس درشهرتارا خواست اين موقعيت راتشيل كند كه مستهلكين جاپاني از دسترسي بيشتربه محصولات امريكا نفع خواهند برد.

رئيس جمهور امريكا درجاپان چهار روزباقي ميماند وتوقع مي رودمساعي اوطي اين سفربركاهش دادن كسربزرگ درتجارت امريكا باجاپان متمركز باشد.

مذاكرات دوروزه رئيس جمهور امريكا با زعماي جاپاني روزچهارشنبه آغاز ميگردد.

---



## سيمينار تقبيح شش جدي ازطرف شوراي عالي جهاد حركت اسلامي افغانستان درگرين هوتل برگزارشد

به منظور تقبيح ونكوهش هجوم وحشيانه روس ها بر كشور مابه ابتكار شوراى عالي جهاد حركت اسلامي افغانستان به تاريخ ۱۵ جدي سال جاري سيميناري درگرين هوتل پشاور برگزار گرديد.

سيمينار حوالي ساعت ۲:۳۰ بجه بعد از ظهربا تلاوت آيات چند قرآن مجيد توسط برادر هميم مشهور آغازگرديد بعدا برادر الحاج خليل الله مقالهٔرا به حضارقرائت نموده در قسمت آن گفت تهاجم وحشيانه روس ها بالاخره در اثر جهاد ما به نابودي كشانيده شد چهره هاي كثيف زمامداران كرملين رسواي ابدي گرديد . موصوف حل معضلهٔ افغانستان رادرمحافل سياسي دسيسه دشمنان اسلام وابرقدرت هاي جهان خواند بعدا حجة الاسلام محمد علي جاويد معاون حركت اسلامي افغانستان رشته سخن رابدست گرفته تحت عنوان " تاثيرجهاد افغانستان بربطلان كمونيزم " بيانات علمي شان راارائه نمودند آغاي جاويد پيرامون جهان بيني ماركسستي به تفصيل صحبت نموده طي تحليل هاي عالمانه شان جهان بيني ماركسيزم را كه ازدوبخش "فزيك وطبعيت " و" تاريخ واجتماع " تشكل گرديده رد وان را باطل ثابت نمودند آغاي جاويد گرچه عوامل زيادي رادر جهت سقوط ماركسيزم ازجهان بيان كرد وي كه علت اصلي واساسي كه باعث نابودي كمونيزم گرديد مقاومت وجهاد ملت ستمديده ومسلمان افغانستان به شمارآورد آغاي جاويد افزود همين جهاد برحق ملت افغانستان بود كه انحا دجماهير شوروي رابراي هميش به زباله دان تاريخ دفن نمود.

بعداً برادر سيداسحق دلجوحسيني رئيس كميسيون ارشادوفرهنگ حزب اسلامي طي بيانات ارزنده شان پيرامون حل سياسي قضيه افغانستان صحبت نموده علل وانگيزه هجوم قشون سرخ را به افغانستان ، حضورروسهارادرمذاكرات حل معضله افغانستان و سقوط كامل اتحاد جماهيرشوروي را مفصلا به حضاربيان نمودند.

برادر دلجو"حسيني" افزودند عامل عمده كه روسي ها را به حاضرشدن درمذاكرات وادار ساخت همانا جهاد برحق ملت مسلمان افغانستان بود .

برادر حسيني درمورد هئيت روسي كه دراين اواخر به پاكستان آمده بود گفت هئيت روسي به اين خاطر نيامده بودتا بهاعاده حقوق ملت ومردم ما سرخم نمايد وبه مردم ما حقوق قايل شود بلكه بخاطري آمده بود تا آنچه را كه دررقبال قضيه افغانستان باامريكا فيصله نموده بود باگوش كسانكه دلخواه شان است برساند اوگفت روسي ها درگفته شان صاد نيستند آنها درين اواخير به رژيم كابل كمك نمودند.

پس يگانه راه حل معضله افغانستان تداوم جهاد است وبس . محفل با دعاپايه درحوالي ساعت پنج شام به پايان رسيد.

## دكندهار ښار دفقيربابااوحضرت بابا په سيموكي ددښمن پوستي وځپل شوي

كندهار :

دميډيا خبري آژانس دشهادت ورځپاڼي اداري ته خبرواكوي چي دكندهار ولايت مومنو مجاهدينو د ۱۳۷۰ كال دمرغومي دمياشتي په شپږمه نېټه دكندهار ښار دفقيربابا په سيمه كي ددښمن پرلښكركوټونو باندي بريالي عمليات ترسره اودرژيم دوه مهمي پوستي يي "فتح كړي . يو شمير عسكر اومنصبداران وژل شوي اوڅلور تنه منصبداران ددوتنوعسكروسره يوځاي ژوندي نيول شويدي ، مجاهدينو په دي جگړي كي له دښمن نه دوه ميله راكټونه ، يوه درنه ماشينگڼه ، ديارلس ميله كلاشينكوفونه ، يوه تومانچه ،دمخابري دوه دستگاوي له ډېري اندازي مهماتو اولوژستكي مواد سره غنيمت كړيدي .

همداراز دمرغومي په لومړي نېټي دكندهار ښار دحضرت بابا په سيمه كي هم ددښمن په يوجيپ موټركي ديوځاي پرځاي شوي ماين دچاودولو كبله جيپ ويجاړ، يوتن منصبدار له دري تنوعسكروسره يوځاي وژل شوي اونوري ټپيان شويدي .

### انجنيراحمدشاه دالبنيان دخبري آژانس سره په مركه كي

## په اوراوباروتوكى لوى شوى نسل افغانستان ته دظاهرشاه دبيراستنيدو مخالف دي

موږ به دالمان دپخواني صدراعظم په تجويزشوي كنفرانس كي گډون ونكړو :

زه تعجب كوم چي پخواني پاچاظاهرشاه دافغانستان دولس په وراندي دخپلو ټولو جناياتو سره سره بياهم دراتلونكي موقت حكومت درياست په فكر كي دي .

دغه ټكي دافغانستان داسلامي اتحاد مرستيال انجنيراحمدشاه دالبنيان دخبري آژانس سره نن سهارپه يوه ځانگړي مركه كي څرگند كړي دي . ده زياته كړه دافغانستان مجاهدولس اوپه خاصه توگه دغه نوي نسل چي دهجرت په خيمو اودااوراوباروتو په خونړي فضا كي لوي شوي له ظاهرشاه سره ناآشنا اوپه هيڅ صورت كي هم افغانستان ته دهغه بيا راتگ نه غواړي .

دافغانستان دراتلونكي سرنوشت دټاكلولپاره داتحاد اسلامي معاون وويل چي : موږ دځينو تحفظاتوپه لرلو سره دافغانستان دعلماو داتحاديي ورومتي پريكره په كومي كي چي دزروتنو داهل حل اوعقد شوري په جوړيدو باندي ټينگارشوي تأييد وو .

دافغانستان دلانجي دحل لپاره دالمان

دپخواني صدراعظم اودسيوسيال ديموكراټ گوند درئيس ( ويلي برانت ) لخوا په تجويز شوي كنفرانس كي داتحاد اسلامي دگډون په هكله انجنيراحمدشاه

(۷)مخ

## شوراي امنيت،اسرائيل رابخاطرتبعيد دوازده فلسطيني از فلسطين اشغالي به شدت محكوم نمود.

نيويارك - ۱۷ر.۱ر.۱۳۷ :

شوراي امنيت ملل متحد اسرائيل را بخاطر تبعيد دوازده فلسطيني غيرنظامي ازقلمروهاي اشغالي به شدت محكوم نمود . حكومت اسرائيل گفت به اقدامات عليه آنهائيكه باعث خشونت مي شوند ادامه خواهد داد .

موضوع تبعيد فلسطيني ها ازجانب اسرائيل مذاكرات صلح شرق ميانه راكه قراربود روزسه شنبه درواشنگتن ازسرگرفته شود به خطر مواجه ساخته است .

هيئت هاي عربي به عنوان احتجاج عليه اين عمل به مذاكره حاضرنشدند نطاقان فلسطيني ازقطع نامه شوراي امنيت ملل متحد استقبال كرده گفتند : آنها درانتظار موسسه آزادي فلسطين ميباشند كه درمذاكره اشتراك كنند .

يك نطاق موسسه آزادي فلسطين گفت : قطع نامه ملل متحد مذاكرات صلح را نجات داده است انتظارمي رود كه موسسه آزادي فلسطين پس ازمذاكرات باكشورهاي عربي كه درمذاكرات صلح اشتراك دارند تصميم خودرا امروز اعلام كند .

## ډگروال شيرگل مسؤل امنيت دوسركه بگرام به اثرانفجارماين به هلاكت رسيد

كابل ۱۸ / ۱۰ / ۱۳۷۰

مديريت ارتباط خارجه رياست نظامي حزب اسلامي افغانستان به نقل از يك منبع درشهركابل گزارش ميدهدكه ډگروال شيرگل مسكونه انجوي ولايت پروان به اثرانفجارمين به هلاكت رسيد.

گزارش مي افزايد : ډگروال مذكورازطرف وزارت واد رژيم غرض حفاظت دوسركه بگرام توظيف بود دراثرانفجار مايني كه دربسترخوابش درقرقه دوسركه بگرام جابجا شده بود شديداً مجروح وبعداً دريكي ازشفاخانه هاي نظامي كابل به هلاكت رسيد.

قرارگزارش نسبت خدماتيكه ډگروال موصوف به رژيم نموده بود نجيب رئيس رژيم مزدوركابل رتبه جنرالي رابه جسد بيجانش تفويض نمود .

---

## شهادت

بيانگرعقايد وآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنير"حكمتيار"

صاحب امتياز : حزب اسلامي افغانستان

ناشر : رياستارشادوفرهنگ

سال تاسيس : ۱۳۵۷ هجري شمسي

تحت نظرهيئت تحرير

تلفون : ۶۳۷۸۹- ۳۰۲۲۴ پشاور

پوست بكس (۱۴۶۵) يونيورستي تاون پشاور

### داندونيزيا جمهور رئيس په تيموركي دله ايزه وژنه دعبرت وبولي.

داندونيزيا جمهور رئيس سوهارتووايي چي په تيموركي ورووستي قتلونه يوه داسي خبره ده چي اندونيزيا بايد ورنه دعبرت درس واخلي اوغوروړي وكړي جمهوررئيس سوهارتو تيره ورځ پارلمان ته ديوي وينا په ترځ كي دوژل شويوخلكو دكورنيو سره بيا خواخوږي اوغم رازي ښكاره كړه.

داندونيزيا عسكرو په تير نومبركي دخپلواكي د طرفدارو مظاهره چيانو په يوه ډلي باندي ډزي وكړي چي په لس هاوو يكي مړه اوله هغي نه زيات ټپيان شول.

### حكومت نظامي گرجستان بازگشت گمسخورديا راازجمهوريت ارمنستان مطالبه ميكند.

تبليسي

رهبران انقشاشيونيكه گمسخورديا رئيس جمهور گرجستان راسقوط داد اكنون بازگشت اورا ازجمهوريت همسايه ارمنستان مطالبه ميكنند.

گمسخورديا وخانش همراه باتعدادي از طرفداران مسلح او روز دوشنبه به تعقيب حمله صبح وقت انقشاشيون برعمارت پارلمان فراركردند آينده گامسخورديا معلوم نيست به اوپناهندگي سياسي داده نشده است . شوراي نظامي ايكه درگرجستان توسط مخالفين وي تاسيس شده ميگويد كه يك حكومت جديد ملكي تشكيل داده وقبل ازختم ماه اپريل انتخابات عمومي راانجام خواهد داد .

## برمادبنگله ديش سره دگډوپولو نه خپل عسكرپه شابيولي

ډاكه :

دبنگلديش رسمي مقامات وايي چي برماله بنگلديش سره دگډي پولي نه خپل عسكر په شا بيولي اوپه دي توگه ددوو هفتو په موده كي ددواړوخواو تاوتريخوالي كم شوي دي په ډاكه كي دخارجه وزارت يوه مامور وويل چي برمائي عسكرتر دريو كيلومترو پوري له سرحدي پولي څخه په شا بيول شوي .

## جهادپوهنتون بنام "دافغانستان اسلامي پوهنتون" مسمي گرديد

به اساس پيشنهادرياست پوهنتون وتائيد شوراي اجرائيه حزب اسلامي افغانستان به خاطريكه درامورات مراسلاتي ومكاتباتي پوهنتون نظامي جهاد وپوهنتون فعلي جهاد كه ازچندين سال به اين سو درودوبخش نظامي وملكي فعاليت دارند تداخل صورت نگيرد وهم چنان مراجعين وعلاقه مندان محترم به وجه احسن بتوانند اين دوبخش را ازهم تميز نمايند، نام جهاد پوهنتون ملكي راكه مشتمل برپنج پوهنځي، طب، انجنيري، زراعت، تعليم وتربيه ، اصول الدين والشريعه مي باشد بنام ( دافغانستان اسلامي پوهنتون ) مسمي گرديد .

## مجددي به آلمان مي رود

مسلم - ۱۸ جدي :

روزنامه مسلم چاپ پاكستان گزارش نموده كه قراراست بتاريخ ۷ دلو كنفرانس سه روزه به اشتراك صبغت الله مجددي، ظاهرشاه و خالقيار صدراعظم رژيم نجيب در نزديكي هاي شهربن آلمان برگزارگردد .

صبغت الله مجددي اظهار آمادگي نموده كه با دوتن ازسران نام نهاد مجاهدين درين كنفرانس غيررسمي كه هيأت رژيم نجيب به سركردگي فضل حق خالقيار نيز درآن سهم مي گيرد شركت كند رهبران مجاهدين هرگونه مذاكرات بارژيم نجيب را مردود شمرده اند .

همچنان رهبران مجاهدين باهرطرح ويلانيكه ظاهر، شاه مخلوع ۷۴ ساله افغانستان درآن نقشي داشته باشد مخالفت نموده آنراتوطيه استعمارخوانده اند .

روزسه شنبه انجنيرگلبدين حكمتيار اميرحزب اسلامي افغانستان اظهارنمود درمقابل هرپلاني كه ظاهرشاه را بازگرداند شديدا مخالفت واستادگي مي نمائيم .

همچنان بنين سيوان نماينده خاص سازمان ملل متحد روز يكشنبه مخفيانه وارد كابل گرديده روزدوشنبه بانجيب وخالقيار پيرامون انكشافات اخيراوضاع ، طرح پنج فقره يي سازمان ملل، پايان بخشيدن به جنگ ۱۳ ساله افغانستان وموافقت نامه واشنگتن ، ماسكو مبني برقطع سلاح ومهمات به طرفين درگير درجنگ بحث ومذاكره نمود .

## يك كندك قواى مليشه با همه مربوطات شان به مجاهدين جبهه شهيد افضلي پيوست

هرات ميديا ۴ جدي

خبرگزاري ميديا به نقل ازيك منبع جهادي از ولايت هرات گزارش ميدهد كه كندك قواي مليشه رژيم مزدوركابل همراه با ۳۰۰ فاميل به قوماندانې محمد اسحاق "مشراني " كه جهت تامين امنيت شاه راه هرات -تورغندي درناحيه ده كيلومتري شهرهرات درمناطق پرواني ، ده شيخ ودهنه كمر كلاغ مستقر بودند با استفاده از عفوعمومي همراه با يكصدميل سلاح خفيف وثقيل به مجاهدين جبهه شهيد افضلي تسليم شدند.

گزارش علاوه مي كند زمانيكه مجاهدين طبق توافق قبلي قرارگاه مركزي دهنه كمركلاغ داخل گرديدند ، يازده عراده موتر ، يك دستگاه تانك ، دوميل توپ ، دوعراده موتر همراه با مهمات ،يك ميل زيوا سه عراده موتر سايكل ، ومقدارزياد مواد لوژستكي را به غنيمت گرفتند. و مليشه ها بافاميل هاي خود نسبت بمباردوحشيانه رژيم به ولسوالي هاي غوريان وكشك پناهنده شدند درهمان روز مجاهدين باهمكاري محمد اسحاق كه قبلاً قوماندان مشهورمليشه بود شاه راه تورغندي - هرات را درمنطقه كمركلاغ بروي ترافيك بستند ودر هنگام بازرسي ، ولي جان قوماندان كندك ولسوالي گلران ودين محمد قوماندان مليشه را با ۵۱ نفرديگر كه بعضي شان مسلح بودند اسيرنمودند درين جريان به مجاهدين هيچ آسيبي نرسيده وحملات خودرا به مراكز دولتي تشديد نموده اند

---

# دجهاددوستانو اودښمنانو ته اجازه نه وركوو چي زموږپه داخلي چاروكي مداخله وكړي